# التوحيد الميسر

# اسان توحيد

تأليف الشيخ :
عبدالله بن أحمد الحويل



البشتو

# التوحيد الميسر

# آسان توحيد

مؤلف: عبد الله بن احمد الحويل
ژباړه: عبد الحليم محمد فاروق أفغاني

نظر ثاني: مطيع الله محمد فاروق أفغاني

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بحي سلطانة/ الرياض

ح عبدالله أحمد الحويل ، ١٤٣٣هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

الحويل ، عبدالله أحمد

التوحيد الميسر / عبدالله أحمد الحويل ؛ عبدالحليم محمد فاروق - الرياض ، ١٤٣٣هـ

١٨٤ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك : ٠-٦٨-٠٤٦٨-٠١-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البوشتو)

١- التوحيد ٢- العقيدة الإسلامية

أ- فاروق ، عبدالحليم محمد (مترجم) ب- العنوان

ديوي ٢٤٠ ١٤٣٣/٦٣٤١

رقم الايـداع: ١٤٣٣/٦٣٤١

ردمك: ٠-٦٨-٠٤٦٨-٠١-٦٠٣-٩٧٨

## دمترجم سريزه

**الحمدلله الذي هدانا لهذا وماكنا لنهتدي لولا أن هدانا الله، ثم الصلاة والسلام على نبيه المصطفى ﷺ وعلى آله وأصحابه أجمعين، وبعد:**

دارساله چې د (التوحيد الميسر) په نامه يادېږي د توحيد دعقيدي په بابله يوه دهغوارزښتناكو رسالو څخه ده چې لوستل يې اوځان پوه كول پري ډيرمهم كاردي، اوله دي پلو چې مؤلف ورپكي دتوحيد عقيده ډيره په لنډ او اسان أسلوب ـ چې عوامو لپاره مناسب دي ـ ليكلي ده، او بل دا چې دتوحيد عقيده دمسلمان په ژوند كښي ډير زيات أهميت لري ځكه كه عقيده يي صحيح وي نو ټول عملونه يي قابل قبول دي، او كه داسي نه وي نو هم په دنيا او هم په ورځ دقيامت دتاوانيانو څخه دي؛ نو ځكه مي دا خوښه وګڼله چې دارساله پښتو ژبي ته ترجمه كړم تر څو ورنه عام پښتانه ورونه د خپل حاضراو مستقبل لپاره ګټه او فائده واخلي، اودخپلو عقيدو دتصحيح كوښښ وكړي، اوالله تعالى پري مونږ ته اجر اوثواب راكړي،او په اخر كښي زه عبدالحليم ددي رسالي ترجمه خپل مور پلار اودواړوكور ودانو او ورنوخوياندو ته هديه كوم.
او ستاسي محترمو لوستونكو څخه ددعاء په انتظار يم.

ستاسي ورور/ عبد الحليم بن محمد فاروق الأفغاني.

ج/ ٠٥٥٩٧٥٧٥٢٤ Email: a-haleem1979@hotmail.com

## د محترم شيخ
## علامه عبد الله بن عبد الرحمن الجبرين وړانديز

أحمد الله وأشكره، وأصلي وأسلم على محمد وآله وصحبه، وبعد:

ما د (التوحيد الميسر) په عنوان دا رساله ولوستله کومه چې شيخ عبدالله بن احمدالحويل تياره کړي؛نو ډيره ارزښتناکه اوقيمتي رساله راته ښکاره شوه، چې دتوحيداودعبادت په تعريف او فضيلت او د عبادت په هغو مثالونو مشتمله ده چې د الله تعالى نه بغير د بل چا لپاره د هغو کول جائز ندي، او همدغه رنګ د شرك ځني قسمونه يې ذکر کړي، او ځني هغه شيان يې ذکر کړي چې د توحيد حقيقت ته پرې نقصان رسيږي او کميږي.

نو ددې کتاب په چاپ کولو او خپرولو او په هغو ځايونو کښې د تقسيمولوسپارښتنه کوو په کومو کښې چې د جهل (ناپوهي) او د ړوند تقليد په وجه خلك د شرك په ډيرو قسمونو کښې اخته شوي، کيداى شي چې الله تعالى پدى سره هغه چاته فائده ورسوي چالره چې الله د خير اراده کړي وي. وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم.

١٤٢٥/٣/٢٥هـ

عبد الله بن عبد الرحمن الجبرين

## د شیخ خالد المصلح وړاندیز

الحمد لله رب العالمين، وأصلي وأسلم على المبعوث رحمة للعالمين، نبينا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين وبعد:

ما هغه څه مطالعه کړل کوم چې زمونږ وروړ شیخ عبد الله بن احمد الحویل په خپل کتاب (التوحید المیسر) کښې لیکلي؛ نو ددی لوي علم په اسانه طریقه مجتمع ته په وړاندي کولو زه ډیر خوشحاله شوم؛ ځکه متعلم (زده کونکي) ته اسانتیا ورپه برخه کول دشریعت د مقصدونو څخه دي، اوله دی وجي الله تعالی فرمائي: ﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ۝٢٢﴾ [القمر: ٢٢].

ترجمه: بیشکه مونږ اسان کړي دي قرآن کریم لپاره د پند اخستلو؛ نو آیا څوك پند اخستونکي شته.

او نبي أکرم ﷺ فرمایلي: لکه څرنګه چې په صحیح حدیث کښې د أبو هریرة رضي الله عنه څخه راغلي دي: "إنما بعثتم ميسرين ولم تبعثوا معسرين".

ترجمه: بیشکه تاسي لیږل شوي یي وی اسانتیا راوستونکي او نه یي وي لیږل شوي سختي راوستونکي.

او همدغه راز لکه څرنګه چې د جابر رضي الله عنه څخه په صحیح مسلم کښې روایت دی فرمائي: "إن الله لم يبعثني معنتاً ولا متعنتاً، ولكن

بعثني معلماً ميسراً".

ترجمه: الله تعالی زه سختي کونکي نه يم راليږلی او نه سختي راوستونکي خو ليکن زه يې اسان لارښود راليږلی يم.

نو ددی مبارك شريعت بنياد په اسانتيا باندی دی هم ددی په علم (پوهه) کښې، اوهم ورباندي په عمل کولو کښې، اودا اسانتيا ددی شريعت د عام والي سره مناسب ده، او دا پدی دلالت کوي چې دا دټولو خلکو لپاره دی. او زمونږ ورور شيخ عبد الله چې کوم کار کړی، دا يو ډير ښه او د قدر وړ کار دی، خاصکر کوم عمل چې ده په اسان انداز پيش کړی، هغه د علمونو بنياد دئ، چې هغه (علم التوحيد) دی، په کوم سره چې بنده د الله تعالی هغه حق پيژنی په کوم چې د بنده دنيا او آخرت صحيح او ښائسته کيږي. د الله تعالی څخه غواړم چې پدی مبارك کوشش سره خلکو ته فائده ورسوي.

ليکونکي: خالد بن عبد الله المصلح

١٤٢٤/٥/١٠هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، وبعد:

دا فائدمند او ځني راغونډ کړی شوي مسائل دي، او د هغه توحيد په ارتباط مزه ناکي فائدي دي د کوم نه بغير چې الله تعالی عمل نه قبلوي،او نه الله تعالی د يو بنده څخه خوشحاليږي مګر ددغه توحيد په کولو باندي.

او پدی لنډ ياداشت کښې ما ځني ضوابط او قاعدي او ځني تقسيمونه ذکر کړي چې د لوستونکي لپاره خواره واره معلومات رايو ځای کوي،اوپه ذهن کښي يې ورلره رامنع کوي هغه زر ويريدونکي معلومات او په ذهن کښې ورته علم په ترتيب کوي. او هر کله چې يو شی ددوه شيانو دپيژندلو څخه بغير نشي پيژندلی چې هغه:

١- د يو شي د حقيقت پيژندل.

٢- د يو شي د ضد (مقابل) پيژندل دي.

نو ځکه مې د توحيد د حقيقت د واضح کولو کوشش کړی، او هم مې د توحِيد اصول (بنيادونه) او قسمونه بيان کړي دي، بيا

مى په دوهم قدم كښې د توحيد ضد (مقابل) چې هغه شرك دى ذكر كړى، او د شرك تعريف اود شرك شكلونه او ډولونه او حكمونه مى ورلره ذكر كړي دي؛ ځكه:

الضد يظهر حسنه الضد * وبضدها تتميز الأشياء.

د يو شي خائسته والى دهغه مقابل شي ښكاره كوي؛ ځكه چې شيان په خپل مقابل سره تميز پيدا كوي؛ نود توحيد خائست او فضيلت نه معلوميږي مگر د شرك د خطر او بدوالي په پيژندلو سره، اوددى لنډ كتاب سره مى ځني نور مهم هغه موضوعات رايوځاى كړي دي چې پيژندنى ته يې موحد (مسلمان) حاجت لري.

او د مسائلو په ترتيب او برابروالي او تقسيم كې مى كوشش كړى، اود تعريفونو ذكر كولو سره مى د دليلونو ذكر كولو خاص لحاظ ساتلى، چې دا (لنډه نمونه) د يادوني او پوهيدنى لپاره اسانه شي.

اود ستړي كونكي اوږدوالي او په مقصدكښې د نقصان راوستونكي لنډوالي څخه مى ځان ساتلي، او دا رساله ما ددغو دواړو څيزونو تر مينځ گرځولي، نو كه پديكي حق ته رسيدلى يم نو دا به د الله توفيق وي، او كه خطا شوى يم نو دا به زما او د شيطان له طرفه به وي.

او ما دا "لنډه نمونه" د موحدينو محقيقنو عالمانو د کتابونو څخه راجمعه کړي، او د "التوحيد الميسر" په نوم مى نومولي، د قادر مولا څخه سؤال کوم چې پدى سره فائده ورسوي، او په هغه ورځ دا زما د نيکو په تله کښې واچوي په کومه ورځ چې زه ورسره مخامخ کيږم، وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم.

عبد الله بن أحمد الحويل

الرياض

پوست بکس ٣٤٥١٦٩ – الرمز البريدي ١١٣٨١

Allhaweel@hotmail.com

د ګرځنده تلفون شميره: ٠٥٥٨٨٥٠٠٢٥

❋❋❋

# د توحید تعریف

**❃ توحید په لغت عربي کښې:**

د وحّد یُوحِّد مصدر دی کله چې یو شی یو وګرځوي.

**❃ مثال:** کله چې ته ووائي: د کور څخه به یو تن نه وځي بغیر د محمد څخه؛ نو تا محمد د کور څخه په وتلو یو اځي (ځانګړي) کړو، او کله چې ته ووائي: چې د مجلس څخه به یو تن نه پاڅیږي مګر یواځي خالد، نو پدی وخت کښې تا د مجلس څخه په پریښودو یواځي خالد ځانګړي کړو.

**❃ توحید په شریعت کښې:**

د الله تعالی یواځی والی ته ویل کیږي په:

١- ربوبیت (پیدا ایښت او پالنه) کښې.

٢- الوهیت (عبادت او تعظیم) کښې.

٣- او نومونو او صفتونو کښې.

❃❃❃

# د توحيد قسمونه

توحيد دری قسمه ته تقسیمیږي:

۱- دربوبيت توحيد (پيدا ايښت او پالنه).

۲- دالوهيت توحيد (عبادت او تعظيم).

۳- د اسماء او صفات توحيد (دنومونو او صفتونو).

او تا ته د هر يو قسم دليل سره د هغه د تعريف بيانووم:

| د توحيد قسم | تعريف يې | دليل يې |
|---|---|---|
| د ربوبيت توحيد | د الله تعالى يواځې شميرل په ۱- خلق (پيدا ايښت). ۲- ملك (واكداري). ۳- په تدبير (د كار چلولو)، او يا الله تعالى لره په خپلو كارونو كښې يواځې شميرلو څخه عبارت دی. د مثال په توګه لكه: پيدا ايښت او روزي وركول او ژوندي كول، او مړه كول، اوباران راورول، او ونې بوټي رازرغونول... او داسې نور كارونه. | ﴿ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ﴾ ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ |

| دليل يې | تعريف يې | د توحيد قسم |
|---|---|---|
| ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ ﴿ وَٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا ﴾ ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴾ | دا توحيد: د الله تعالى يواځي والي دی، د بندګی په کارونو باندي. د مثال په ډول: لکه لمونځ روژه نيول، حج کول، په الله تعالی باندی توکل (ځان سپارل) کول، نذر (منخته) کول، خوف (ويره) کول، رجاء (اميد) لرل، محبة (مينه) کول ... او دارنګه نور. | د الوهيت توحيد، او ديته د عبادت (بندګي) توحيد هم وائي |
| ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴾ ﴿ وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا۟ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ أَسْمَـٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾ ﴾ | دا توحيد: د الله تعالى لپاره هغه صفتونه بيانول کوم چې الله تعالی د خپل ځان لپاره بيان کړي وي، او يا پري د هغه پيغمبر ﷺ هغه موصوف کړی وي، چې هغه د کمال او د لويوالي صفتونه دي، بغير د کيفيت د (څرنګوالي بيانولو څخه، او بغير د تحريف د (خپلي معنی څخه داړولو نه)، او بغير د تعطيل (بي معنی پريښودلو) څخه. | دالأسماء والصفات توحيد (دنومونو او صفتونو توحيد) |

# مهمي (ضروري) فائدي

<u>اوله فائده:</u> د توحید درې واړه قسمونه یو بل سره لازم دي، هر یو قسم د بل څخه نه جدا کیږي، نو چا چې د توحید یو قسم عملي کړو، او بل قسم یې نه وي عملي کړي نو دا موحد ندي.

<u>دوهمه فائده:</u> پدې ځان پوهه کړه چې رسول الله ﷺ د کومو کافرانو سره جنګ کولو هغوي د توحید ربوبیت اقرار کولو، نو هغوي پدې اقرار کولو چې الله تعالی خالق (پیدا کونکي) رازق (روزي ورکونکي) دی، او ژوندی کونکی او وژونکی دی، فائده او ضرر رسونکي دی، هغه ذات دی چې د ټولو کارونو تدبیر کوي... خو پدې اقرار باندي هغوي په إسلام کښې نه ؤ داخل شوي، او دلیل پرې دا قول د الله تعالی دی: ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ ﴾ [يونس: ٣١].

ترجمه: ورته ووایه: د ځمکي اواسمان څخه څوك روزي درکوي، او څوك دی مالك داوریدلو(غوږونو) او لیدلو (سترګو) او څوك راوباسي ژوندي دمړه څخه اومړ د ژوندي څخه، او څوك تدبیر دکارونو کوي؛ نو زر دي چې وبه وائي: الله تعالی؛ نو ورته ووایه: آیا د شرك څخه ځان نه بچ کوئ.

<u>دريمه فائده:</u> د الوهيت (عبادت) توحيد د ټولو پيغمبرانو ﷺ د دعوت موضوع ده؛ ځکه دا توحيد هغه بنياد دی چې ټولو عملونو پری بناء دي، او ددی توحيد د موجودوالي څخه بغير ټول عملونه نه صحيح کيږي؛ ځکه کله چې دا توحيد نه وي موجود نو ددی ضد چې هغه شرك دی موجوديږي، او پيغمبرانو ﷺ او د هغوي د امتونو تر منځ د جنګ جدل اساسي ټکی هم دا توحيد ؤ؛ نو دی توحيد ته زيات اهتمام اوتوجه ورکول پکار دي، او ددی توحيد د مسائلو لوستل، او په اصولو باندي يې ځان پوهه کولو ته توجه پکار ده.

***

# د توحيد اهميت او فضيلت

١- توحيد د إسلام لوي ركن دی، او د إسلام د لويو ستنو څخه دی، او يو انسان تر هغه په إسلام كښې نشي داخليدلي تر څو چې د توحيد ګواهي ونكړي، او تر څو د الله تعالى لپاره خاص د بندګۍ اقرار ونكړي، او د نورو څخه يې نفي نكړي.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: "بني الإسلام على خمس:

- شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله.
- وإقام الصلاة.
- وإيتاء الزكاة.
- وصوم رمضان.
- وحج البيت" [متفق عليه].

ترجمه: إسلام د پنځه شيانو څخه جوړ شوی چې هغه: ګواهي وركول ددی خبري چې حقدار دبندګۍ بغير د الله څخه بل هيڅوك نشته، او محمد ﷺ د الله تعالى رسول دی، او په لمانځه هميشه والي (پابندي) كول او د زكات وركول، او د روژې د مياشتی روژه نيول، او د بيت الله حج كول"

بخاري او مسلم روايت كړي دی.

٢- توحيد د ټولو نه مهم او د ټولو واجباتو ړومبی واجب دی.

نو توحيد په ټولو عملونو مخکې دی، او د ټولو مهمو شيانو مخکې دی؛ ځکه د توحيد مرتبه ډيره لويه ده، او اهميت يې ډير غټ دی.

اودا هغه اولني شی دی چې ديته بلنه کيدای شي، پيغمبر ﷺ چې کله معاذ بن جبل ﷺ يمن ته ليږلو نو ورته يې وفرمايل: "إنك تأتي قوماً من أهل الكتاب، فليكن أول ما تدعوهم إليه شهادة أن لا إله إلا الله، وفي رواية "إلى أن يوحدوا الله" [متفق عليه].

ترجمه: يقيناً ته ورځې يو داسی قوم ته چې د اهل کتابو څخه دي، نو اولنی هغه څه چې ته ورته هغوي رابلي، ددی ګواهي کول دي چې حقدار د بندګی بغير د الله تعالى څخه بل هيڅوك نشته. او په بل روايت کښې راغلي دي چې ته هغوي د الله تعالى يو والي ته راووبله - بخاري او مسلم روايت کړی.

٣- د توحيد څخه بغير عبادتونه نه قبليږي:

نو دا توحيد د عملونو د صحيح والي لپاره شرط دی، او د قبولتيا بنياد يې دی، او عبادت ته عبادت هله ويل کيږي چې توحيد ورسره وي، لکه څرنګه چې لمونځ ته هله لمونځ ويل کيږي

چې په اودس وشي، نو کله چې په عبادت کښې شرك راشي نو عبادت برباد وي (بې فائدې کيږي)، لکه بې اودسي چې کله د اودس نه وروسته راشي، او عبادت بغير د توحيد څخه شرك ګرځي چې عمل برباد کړي او خرابه وي،او کونکي يې په اور کښې هميشه ګرځولي شي.

۴- توحيد په دنيا او آخرت کښې د امن او هدايت لپاره سبب دی:

پدی باندې د الله تعالی دا قول دليل دی: ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُوٓاْ إِيمَـٰنَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾﴾ [الأنعام: ٨٢].

ترجمه: هغه کسان چې إيمان يې راوړي او خپل إيمان يې شرك سره ندي ګډوډ کړي، نو دا کسان ددوي لپاره امن دي، او دوي هدايت موندونکي دي.

او د ظلم نه مراد شرك دی لکه څرنګه چې نبي ﷺ ددی بيان کړی [١].

ابن کثير رَحِمَهُ الله فرمائي: "يعني هغه کسان چې هغوي يواځي الله تعالی لره بندګي خالص کړي، چې يواځی دي او شريك نلري، او

---

(١) په بخاري کښې (٢/٤٨٤) د ابن مسعود ﷺ په حديث کښې.

هيڅ قسم شرك يې ورسره ندي كړي، نو دوي د قيامت په ورځ په امن (بې ويرې) دي، او په دنيا او آخرت كښې په هدايت دي.

نو چا چې پوره توحيد ومنلو، نو د هغه لپاره پوره امن او پوره هدايت دی، او جنت ته به بې له عذاب څخه داخل شي.

نو شرك د ټولو ظلمونو څخه لوي ظلم دی، او توحيد د ټولو عدالتونو څخه لوي عدالت (انصاف) دی.

**۵- توحيد جنت ته د داخليدو او د اور(جهنم) څخه د خلاصون** سبب دی: پيغمبر ﷺ فرمائي: "من شهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمداً عبده ورسوله، وأن عيسى عبد الله ورسوله، وكلمته ألقاها إلى مريم وروح منه، والجنة حق،و النار حق، أدخله الله الجنة على ما كان من العمل" [متفق عليه].

ترجمه: څوك چې ددی ګواهي وكړي چې نشته حقدار د بندګۍ هيڅوك بغير د الله تعالى څخه، چې يو دی شريك نلري، او محمد ﷺ د الله تعالى بنده او د هغه رسول دی، ا ودا چې عيسى ؈ د الله تعالى بنده او د هغه پيغمبر دی، اوكلمة د(كن) دهغه ده چې ليږلي وه مريم ته، او روح والا دي لطرفه دهغه نه، او جنت او دوزخ حق (رښتيني) دي، نو الله تعالى به دا جنت ته داخل كړي.

او پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: "فإن الله حرم على النار من قال لا إله إلا الله يبتغي بذلك وجه الله" [متفق عليه].

ترجمه: بيشکه الله تعالى په اور باندي هغه څوك حرام (بند) كړي چې دا ووائي چې نشته حقدار د بندګي بغير د الله تعالى څخه، او پدی ويلو سره د الله تعالى ديدار غواړي.

۲- توحيد ددنيا اوآخرت د سختو څخه نجات (خلاصون) دی:

ابن قيم رحمه الله فرمائي: "توحيد ځای د خلاصون دی د دشمنانو د هغه او د دوستانو د هغه.

أ) هر چې د هغه د شمنان دي نو هغوي لره د دنيا د مصيبتونو او سختو څخه نجات ورکوي ﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ ﴾ [العنكبوت: ٦٥].

ترجمه: پس کله چې دوي سپاره شي په کشتۍ کښې نو اواز کوي (رابلي) الله تعالى ته پداسي حال چې خالص کونکي وي هغه لره بلنه؛ نوکله چې دوي لره نجات ورکړي وچی ته؛ نو دوي بيا شرك شروع كړي.

ب- او هر چې دهغه دوستان دي نو هغوي لره نجات (خلاصون) ورکوي د دنيا او آخرت د سختيو او مصيبتونو څخه؛ نو دا د الله تعالى طريقه ده په خپلو بندګانو کښې؛ نو د توحيد

پشان داسي هيڅ يو شي نشته چې په هغه باندي د دنيا سختي دفعه کړي شي، او له دی وجی د سختي څخه د خلاصون دعاء په توحيد سره ده، او د ذوالنون دعاء چې کله هم په هغي سره يو مصيبت زده دعاء وغواړي نو الله تعالی تري مصيبت لري کوي هغه دعاء هم توحيد دی.

نو په غټو تکليفونو او مصيبتونو کښې اخته کونکي ندي مګر شرك دی، او ددغو څخه خلاصونکي ندی مګر توحيددي؛ نو دا توحيد د مخلوق د ويری د لري کيدلو، او د پناه وروړلو ځای دی، ا ودا مضبوطه قلعه ده، او د مدد حاصلولو ذريعه ده.

۷- توحيد د انسانانو او پيريانو د پيدائش څخه حکمت دی:

الله تعالی فرمائي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: ما ندی پيداکړي پيريان او انسانان مګر ددی لپاره چې خاص ما لره بندګي وکړي.

يعني: يواځي زما بندګي وکړي. نو رسولان ندي راليږل شوي، اوکتابونه ندي نازل کړي شوي،اوشريعتونه ندي مقررکړی شوي، او مخلوق ندی پيدا کړی شوي مګر ددی لپاره چې د الله تعالی توحيد وکړی شي، او د هغه عبادت وکړي شي نه د بل چا.

***

# لا إلـه إلا الله

* دليل يې: د الله تعالى دا قول دى: ﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلْعِلْمِ قَآئِمَۢا بِٱلْقِسْطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ ﴾ [آل عمران: ١٨].

ترجمه: بيان کړى الله تعالى چې نشته حقدار د بندګى بغير د هغه څخه او ملائکو او اهل علم هم ګواه دى، پداسي حال چې ولاړ دى په انصاف، نشته حقدار د بندګى بغير د هغه څخه زورور دى او د حکمتونو والا دي.

او د الله تعالى دا قول دى: ﴿ فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ [محمد: ١٩].

ترجمه: خبر شۀ شان دا دى چې نشته حقدار د بندګۍ بغير د الله تعالى څخه.

* د (لا إله إلا الله) معنى:

(لا معبود بحق إلا الله) نشته بندګي کړى شوي په حق مګر يوائې يو الله تعالى دي.

* د (لا إله إلا الله) نوري باطلي معنى ګانې:

١ - (لا معبود إلا الله) (نشته عبادت کړى شوى بغير د الله تعالى څخه).

اودا معنی باطل ده؛ ځکه ددی معنی داده چې هر معبود که په حق وي او که په باطل هغه الله دی.

۲- (لا خالق إلا الله) (نشته پیداکونکي بغیر د الله تعالی څخه):

او دا د (لا إله إلا الله) د معنی یو جزء دی، لیکن دا مقصودي ندی؛ ځکه که چیری دا د (لا إله إلا الله) معنی وائي نو د نبي ﷺ او د هغه د قوم تر مینځ به جنګ او جدل نه وی راغلي؛ ځکه هغوي پدی باندی اقرار کولو.

۳- (لا حاکمیة إلا لله):(فیصلو کولو اختیار نشته مګر الله تعالی لپاره).

اودا هم د (لا إله إلا الله) د معنی یو جزء دی، خو لیکن دا یواځي پوره ندي او نه مقصودي دی؛ ځکه که چیري الله تعالی په بالادستی او فیصلو کښې یواځی کړي شي، خو لیکن عبادت د بل چا لپاره وکړی شي نو بیا هم توحید نه حاصلیږي.

❁ د (لا إله إلا الله) أرکان:

د (لا إله إلا الله) دوه رکنونه دي:

۱- نفي (لا إله) نشته معبود.

یعني چې ته عبادت نفي کړي د هر هغه چا څخه چې د الله

تعالی څخه بغير د هغه عبادت کيدای شي.

٢- إثبات (إلا الله).

يعني ته الله تعالی لره يواځي عبادت ثابت کړي چې هيڅ قسم شريك ورسره پکي نه وي.

دليل پری د الله تعالی دا قول دی: ﴿فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ﴾ دا نفي شوه ﴿وَيُؤْمِن بِاللَّهِ﴾ دا اثبات شو ﴿فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ﴾ [البقرة: ٢٥٦].

ترجمه: څوك چې کفر وکړي په طاغوت او إيمان راوړي په الله تعالی نو يقيناً دی کلکی منګولي ولږولی په مضبوطه رسۍ باندي.

او دالله تعالی دا قول دی: ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾﴾ دا نفي ده ﴿إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي﴾ دا اثبات دی: ﴿فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ﴾ [الزخرف: ٢٦ – ٢٧].

ترجمه: کله چې وويل إبراهيم عليه السلام خپل پلار او خپل قوم ته بيشکه زه بي زاره يم ستاسو د معبودانو څخه مګر د هغه ذات څخه نه يم بيزار چې زه يې پيدا کړی يم، نو بيشکه چې هغه ماته هدايت کوي.

❋ انسان ته (لا إله إلا الله) ويل کله فائده رسوي؟:

١- کله چې د (لا إله إلا الله) معنی وپيژني.

٢- او کله چې د (لا إله إلا الله) په مقتضی عمل وکړي (چې هغه د الله تعالی څخه سيوا د نورو بندګي پريښودل او يوائې د يو الله تعالی بندګي کول دي).

❋❋❋

# د (لا إله إلا الله) شرطونه

❋ د شرطونو لنډ ذکر:

د (لا إله إلا الله) ويونکي ته ددی ويل هله فائده ورکوي چې د (لا إله إلا الله) شرطونه په ځان کښې راولي (عملي کړي): او دغه اته شرطونه دي.

١- علم چې منافي وي د جهل سره.

٢- يقين چې منافي وي د شک سره.

٣- اخلاص چې منافي وي د شرک سره.

٤- صدق (رښتيا) چې منافي وي د دروغو (کذب) سره.

٥- محبت چې منافي وي د کيني (بغض) سره.

٦- د الله تعالى تابعداري کول چې منافي وي د هغه د نافرماني سره.

٧- قبول چې منافي وي د رد کولو سره.

٨- د الله تعالى څخه ما سوا چې د چا عبادت کيدای شي پر هغو کفر کول.

❋ دا شرطونه په يو شعر کښې راجمعه کړی شوي

علـم يقـين وإخـلاص وصـدقك — مـع محبـة وانقيـاد والقبـول لهـا
وزد ثامنهـا الكفـران بمـا — سـوى الإلـه مـن الأوثـان قد ألِّهـا

ترجمه: علم او يقين او اخلاص دی سره د رشتيا ويلو ستا د محبت او تابعداري کولو او د قبلولو ددی کلمي، او ورسره إضافه کړه اتم هغه کفر کول ستا په نورو هغو بوتانو چې د هغوي عبادت کيدی شي د الله تعالی څخه سيوا.

❋ په تفصيل سره د «لا إله إلا الله» د شرطونو ذکر:

١- علم چې منافي وي د جهل سره: ددی معنی دا ده چې علم لرل په معنی د «لا إله إلا الله» باندي هم په نفي اوهم په اثبات، دليل پری د الله تعالی دا قول دی: ﴿ فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ [محمد: ١٩].

ترجمه: پوهه شه شان دا دی چې نشته حقدار د بندګۍ بغير د الله تعالی څخه.

٢- يقين چې منافي وي د شك سره: ددی معنی دا ده چې ددی کلمي ويونکي پوره يقين کوي پدی چې يواځي يو الله تعالی بر حق معبود دی.

او دليل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ

﴿ٱلصَّـٰدِقُونَ ۝١٥﴾ [الحجرات: ١٥].

ترجمه: بيشکه پوره مؤمنان هغه کسان دي چې إيمان لري په الله او د هغه په رسول ﷺ، او بيا يې شك نه وي کړي، او جهاد يې کړی وي په لاره د الله تعالى کښې په مالونو او نفسونو خپلو، دغه کسان هم دوي رشتني دي په دعوى د إيمان کښې.

٣- اخلاص چې منافي وي د شرك سره: ددى معنا داده چې ته ټول عبادتونه يواځې الله تعالى لره په اخلاص وکړي، او له دغو څخه يو عبادت هم د الله تعالى څخه بغير د بل چا لپاره ونکړي.

اودليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: او دوي ته امر نه ؤ کړی شوی مګر ددی چې بندګي وکړي الله تعالى لره، پداسي حال چې خالص کونکي وي هغه لره بندګي.

٤- رښتيا چې منافي وي د دروغوسره: ددى معنى دا ده چې ته د توحيد د کلمي په ويلو کښې رښتيني يې چې د زړه خبره دى د ژبي سره موافق وي.

اودليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿الٓمٓ ۝١ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ

أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ﴿٢﴾ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٣﴾ ﴾ [العنكبوت: ١ – ٣].

ترجمه: الله تعالى پوهيږي په معنى ددى حروفو، آيا گمان كوي خلك چې دوي به پريښودل شي پدى وجه چې دوي وائي: إيمان راوړي دي مونږ او حال دا چې په دوي به ازميښت نه شي كيدائي. او يقيناً ازميښت كړي دي مونږ په هغه كسانو چې د دوي ځخه مخكښې وو؛ نو خامخا ښكاره كوي به الله تعالى هغه كسانو لره چې رښتيا وائي او خامخا ښكاره كوي به دروغژنو لره.

٥- محبت چې منافي وي د كيني (بغض) سره: ددى معنى دا ده چې ته دا كلمه ووائي، او ته د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ سره مينه كوى، او ددى كلمي او دا چې په څه دلالت كوي هغه سره مينه لري.

اودليل پري دا الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ﴾ [البقرة: ١٦٥].

ترجمه: ځني د خلكو څخه هغه دي چې الله تعالى سره نور شريكان جوړوي، چې هغوي سره محبت كوي دا الله تعالى د محبت پشان، او هغه كسلن چې إيمان يې راوړي ډير سخت دي په محبت

کولو کښې الله تعالی سره.

٦- د الله تعالی تابعداري (غاړه ایښودل) چې منافي وي د هغه د نافرماني سره: ددی معنی دا ده چې ته د الله تعالی لپاره بندګي وکړي پداسي حال چې څوك ورسره پکي نه شریکوي، او د هغه شریعت ته غاړه کیږدي، او د هغه په شریعت إیمان ولري، او ددی عقیده وساتي چې دغه شریعت حق دی.

او دلیل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُواْ لَهُۥ ﴾ [الزمر: ٥٤].

ترجمه: او وروګرځئ خپل رب ته، او غاړه کیږدئ هغه ته.

٧- قبلول چې منافي وي د رد کولو سره: ددی معنی دا ده چې ته دا کلمه قبول کړی، او هغه څه قبول کړي چې دا کلمه پري دلالت کوي، چې هغه د الله تعالی لپاره عبادت خالص کول دي، او د الله تعالی نه سیوا د نورو عبادت پریښودل دي.

او دلیل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾ ﴾ [الصافات: ٣٥ – ٣٦].

ترجمه: بیشکه ؤ دوي کله چې به وویل شو دوي ته چې نشته حقدار د بندګي غیر د الله تعالی څخه؛ نو دوي به ځان غټ ګڼلو، او ویل به یې آیا مونږ پریښودونکي یو خپلو معبودانو لره د یو

شاعر ليوني له وجي.

۸- په هغه معبودانو کفر کول چې دالله تعالى څخه ما سوى وي: ددى معنى دا ده چې ته د غير الله د عبادت څخه براءت (بيزاري) وکړي، او ددى عقيده لري چې دغير الله عبادت باطل دى.

اودليل پري دالله تعالى دا قول دى: ﴿ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ﴾ [البقرة: ۲٥٦].

ترجمه: څوك چې کفر وکړي په طاغوت او إيمان ولري په الله تعالى باندي نو بيشکه دى منګولي ولږولي په کړي مضبوطه (کلکه).

❋❋❋

# شهادة أن محمداً رسول الله

# د محمد ﷺ د پيغمبرۍ ګواهي ورکول

* ددې ګواهي دليل:

د الله تعالى دا قول دى: ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾﴾ [التوبة: ١٢٨].

ترجمه: بيشکه تاسو ته ستاسي د جنس څخه پيغمبر راغلي، ګران دي په هغه باندي ستاسو تکليفول، حرص کونکي دى ستاسي په إيمان راوړو، او خاص په مؤمنانو باندي شفقت او رحم (مهرباني) کونکي دى.

او د الله تعالى دا قول دي: ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ﴾ [المنافقون: ١].

ترجمه: بيشکه الله پوهيږي چې ته د الله تعالى پيغمبر يې.

* او ددې ګواهي معنى:

معنى يې داده چې د خولي د وينا مطابق ډير په ټينګښت د زړه له کومي په دې باور وکړي چې محمد ﷺ د الله بنده او ټولو انسانانو او پيريانو ته د هغه رسول (پيغمبر) دى.

❋ ددې ګواهي أرکان:

ددې ګواهي دوه رکنونه دي:

۱- د محمد ﷺ په پیغمبرۍ اقرار کول.

او دلیل پرې د الله تعالی دا قول دی: ﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ﴾ [الفتح: ۲۹].

ترجمه: محمد ﷺ د الله رسول (پیغمبر) دی.

۲- د محمد ﷺ د بندګۍ (بشریت) عقیده لرل یعني (چې د الله تعالی بنده دی).

او دلیل پرې دادی چې الله تعالی په ډیرو بهترو ځایونو کښې د هغه صفت په بندګۍ سره کړی، او یو ددغو ځایونو څخه د دعوت مقام دی: الله تعالی فرمائي: ﴿وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾﴾ [الجن: ۱۹].

ترجمه: او شان دا دی هر کله چې ودریږي بنده د الله تعالی، چې الله تعالی رابلي، نزدې وي دوي چې په هغه باندې راجمعه شي.

نو دا پیغمبر دې دروغجن ورته نشي ویل کیدلی، او د الله بنده دی چې بندګي یې نشي کیدلی.

❋د محمد ﷺ د پېغمبرۍ د ګواهي شرطونه او غوښتني څلور دي:

١- په هغه څه کښې د هغه تصديق (باور) کول چې هغه يې خبر ورکړی وي.

٢- په هغه څه کښې د هغه تابعداري کول چې هغه پري امر کړی وي.

٣- او د هغه څه څخه ځان ساتل چې هغه تري منعه کړي وي.

۴- ا ودا چې د الله تعالی عبادت په هغه طريقه وکړی شي کومه طريقه چې هغه مقرر (رواء) کړی وي.

❋❋❋

# دشرك تعريف او قسمونه يې

❋ د شرك تعريف:

شرك په لغت کښې: په معنی د شريکولو او يو ځای کولو راځي.

او په شريعت کښې: الله تعالى سره د غير الله برابروالی دی په هغه څه کښې چې هغه د الله تعالى د خصوصيتونو څخه وي.

❋ د شرك قسمونه:

١- شرك أكبر (لوي شرك):

او دا هر هغه شرك دی چې شريعت کښې ورته شرك ويلي شوي وي، او انسان لره د دين څخه ويستونکي (خارجونکي) وي.

٢- شرك أصغر (وړوکي شرك):

او دا هر هغه عمل دی که هغه د وينا (قول) سره تعلق لري يا د کولو (فعل) سره تعلق لري چې په شريعت کښې پري د شرك او يا د کفر اطلاق کړی شوي وي، او د شريعت د دليلونو څخه دا معلوميږي چې ددی شرك کونکي انسان پدغه شرك د دين څخه نه خارجيږي.

❋ د لوي شرك او وړوكي شرك تر منځ توپيرونه (فرقونه):

د راتلونكي جدول څخه د لوي او وړوكى شرك تر منځه توپيرونه (فرقونه) واضح كيږي.

| وړوكي شرك | لوي شرك |
|---|---|
| ددين څخه ويستل نكوي | ددين څخه ويستل كوي |
| كونكي يې كه اور ته داخل شي هميشه به پكي نه وي. | كونكي به يې په اور كښې هميش لپاره وي |
| ټول عملونه نه بربادوي، بلكي رياء (ځان ښودنه) فقط هغه عمل بربادوي چې رياء پكي راغلي وي. | ټول عملونه بربادوي |
| دا دواړه نه رواء كوي. | د مال اخستل او وينې تويول رواء كوي. |

# د لوي شرك ډولونه (قسمونه)

❋ لوي شرك په څلور ډوله (قسمه) دی:

**اول:** شرك په دعاء كښې.

او دليل پري د الله تعالى دا قول دی: ﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ ﴾ [العنكبوت: ٦٥].

ترجمه: نو هركله چې دوي په كشتۍ كښې سپاره شي، نو دعاء غواړي د الله تعالى څخه چې خالص كونكي وي هغه لره دعاء؛ نو هر كله چې بچ كړي دوي لره وچې ته، نو پدغه وخت كښې دوي بيا شرك شروع كړي.

**دوهم:** د نيت او قصد او ارادې شرك:

اودليل پري د الله تعالى دا قول دی: ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَٰلَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا۟ فِيهَا وَبَٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ ﴾ [هود: ١٥ – ١٦].

ترجمه: هغه څوك چې غواړي (په عمل خپل سره) ژوند د دنيا او ډول (خائست) د هغي؛ نو پوره به ورکړو دوي ته بدله د عملونو ددوي په دنيا كښې، او ددوي نه به په هغي كښې څه كمي نشي

کيدى، دا هغه کسان دي چې نيشته دوي لره په آخرت کښې مګر اور، او برباد به شي هغه نيك عملونه چې دوي کړي دى په دنيا کښې، او بې فائدې دي هغه کارونه چې دوي يې کوي.

**دريم:** په اطاعت کښې شرك کول:

اودليل پرې دالله تعالى داقول دى:﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَـٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُوٓاْ إِلَـٰهًا وَٰحِدًا ۖ لَّآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣١﴾ ﴾

[التوبة: ٣١].

ترجمه: دوي خپل موليان او پيران إلاهان (معبودان) ګرځولي د الله تعالى څخه سيوا ، او مسيح څوي د مريم، او دوي ته امر نه ؤ کړى شوي مګر ددى چې بندګي وکړي دوي د معبود (الله تعالى) يو، نشته حقدار د بندګۍ غير د هغه څخه ، پاکي ده هغه لره د هغه ځه څخه چې دوي ورسره شريکوي.

او ددى آيت تفسير: چې اشکال وريکي نشته هغه دا دى، چې د موليانو او پيرانو خبره منل په ګناه کښې، نه دا چې دوي د هغوي څخه دعاء غوښتله لکه څرنګه چې نبي ﷺ عدي بن حاتم ﷺ ته فرمايلي ګله چې تري نبي ﷺ پوښتنه وکړه، نو هغه ورته وويل: مونږ خو د هغوي عبادت (بندګي) نده کړى، نو نبي ﷺ ورته وويل

چې د هغوي عبادت کولو مقصد د هغوي خبره منل دي په گناه کښې"(١).

**څلورم:** په محبت کښې شرك کول:

اودليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ﴾[البقرة: ١٦٥].

ترجمه: ځني د خلکو څخه هغه دي چې الله تعالى سره نور شريکان جوړوي ، چې هغوي سره محبت کوي د الله تعالى د محبت پشان.

❋❋❋

---

(١) حديث ترمذي په دي [۴٠٩۴] نمبر ذكر کړی.

# د غټ او وړوکي شرك مثالونه

## ❋ د لوي شرك مثالونه:

**أ- لوي ښکاره شرك:** د الله تعالی څخه علاوه د بل چا لپاره حلالکه کول، د الله څخه سیوا د بل چا لپاره منخته کول، د الله څخه غیر بل چا ته د مصیبت په وخت کښې چغي او پریاد کول د امداد غوښتلو په خاطر.

**ب- لوي پټ شرك:** لکه د منافقانو شرك او ریاء (ځان ښودنه) او لکه خوف السر (پټه ویره کول) د الله تعالی څخه غیر د بل چا نه ویره کول دي په هغه څه کښې چې د الله تعالی څخه غیر بل څوك پري قدرت نلري.

## ❋ د وړوکي شرك مثالونه:

**أ- وړوکی ښکاره شرك:** قسم کول په غیر الله باندی، یا ما شاء الله وشئت ویل (یعني که د الله تعالی او ستا خوښه شي) یا دا ویل چې: لولا الله وفلان (یعني که الله او فلانکی نه وی).

**ب- وړوکي پټ شرك:** لکه ریاء (ځان ښودنه) یا بدپالي نیول.

## ✵ د شرك څخه د بچكيدو فائدمنده دعاء:

د أبي موسى ﷺ نه روايت دي هغه وائي مونږ ته رسول الله ﷺ يوه ورځ خطبه وكړه نو وفرمايل: "أيها الناس اتقوا هذا الشرك فإنه أخفى من دبيب النمل".

ترجمه: اى خلكو ځان وساتئددى شرك څخه؛ ځكه دا شرك د ميږي د مزل د كشاري څخه هم ډير پټ دى.

نو يو چا ورته وويل: اى د الله پيغمبره څرنګه مونږ د شرك څخه ځان بچ كړو حال دا چې دا د ميږي د مزل د كشاري څخه هم ډير پټ دى نو نبي ﷺ وفرمايل: "قولوا: اللهم إنا نعوذبك أن نشرك بك شيئاً نعلمه ونستغفرك لما لا نعلمه" رواه أ حمد وحسنه الألباني –رحمهما الله–.

ترجمه: ووايئ: اى الله مونږ تاته پناه دروړو د يو شي شريكولو څخه چې مونږ ته معلوم وي، او ښبنه غواړو ستا څخه د هغه شرك چې مونږ پري نه پوهيږو.

دا حديث امام احمد روايت كړى دى، او شيخ الباني ورته حسن ويلي دى.

# د شرك تاريخ

❋ توحيد په بني آدم كښې د اول څخه موجود ؤ، او شرك وروسته راغلي، او په دوي كښې ورته‌مبل شوي.

لكه څرنګه چې ابن عباس ﷺ فرمايلي: "د آدم او نوح تر منځ لس (١٠) پيړۍ ټولى په توحيد (عقيده) وي".

❋ په مخ د ځمكه اول ځل لپاره د شرك راڅرګنديدل:

چې هغه د نوح ﷺ په قوم كښې ؤ، هر كله چې هغوي د نيكانو په حق كښې د حد څخه زياتي وكړو، او دوي ددغو نيكانو عكسونه (مجسمي) جوړ كړل تر دى چې دوي په آخر كښې د الله تعالى څخه سيوا ددغو عبادت ته خبره ورسوله؛ نو الله تعالى هغوي ته نوح ﷺ توحيد ته د بلني لپاره راوليږلو.

## ❋ د موسى ﷺ په قوم كښي شرك:

هغه وخت راڅرګند شو كله چې هغوي د سخي څخه (إله) جوړ كړو.

## ❋ شرك په نصاراو كښي:

هغه وخت راپيدا شو كله چې الله تعالى عيسى ﷺ اسمان ته اوچت كړو، نو دغه وخت (بُولس) راغى چې په عيسى ﷺ باندي د إيمان اظهار يې د دوكي او فريب (چل ول) لپاره كړي ؤ، نو د

نصاراو په دين کښې يې تثليث (درې والي) او د صليب بندګي او نوره بت پرستي داخل کړه.

### ❋ په عربو کښې شرك:

د عمرو بن لحي الخزاعي په واسطه راغي، کوم چې د إبراهيم ﷷ دين بدل کړو، چې د حجاز ځمکي ته يې بوتان راوړل، او خلکو ته يې د دغو بوتانو د عبادت کولو امر وکړو.

### ❋ د محمد ﷺ په امت کښې شرك:

د فاطمينو شيعګانو په واسطه د څلورمي پيړۍ څخه وروسته راپيدا شو، کله چې هغوي په قبرونو باندي مزارونه جوړ کړه، او د ميلادونو لمانځل بدعت يې په إسلام کښې راپيدا کړو، او د نيکانو په حق کښې د حد څخه تجاوز شروع کړو.

او همدارنګه شرك د حق څخه د بې لارې صوفيت د راڅرګنديدو سره پيدا شو، کوم صوفيت چې د مشائخو، او د طريقو والو په حق کښې د حد څخه د وتلو بڼه اختيار کړي.

❋❋❋

# د شرك خطر او سزاګانې يې

۱) الله تعالى شرك نه ښني کله چې کونکي يې په شرك بې توبې مړ شي.

او دليل پرې د الله تعالى دا قول دى: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾ [النساء: ٤٨].

ترجمه: بيشکه الله تعالى نه ښني شرك کول د هغه سره، او ښني هغه (ګناهونه) چې کم وي د شرك څخه چا لره چې الله تعالى وغواړي.

۲) شرك کول مشرك د إسلامي دين څخه خارجوي، او وينه تويول او مال اخستل يې رواء کوي.

او دليل پرې د الله تعالى دا قول دى: ﴿ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ فَٱقْتُلُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَٱحْصُرُوهُمْ ﴾ [التوبة: ٥].

ترجمه: نوپس هر كله چې تيري شي مياشتې د حرمت والا (أشهر الحرم) نو وژنئ مشركانو لره كوم ځائي چې ومومي تاسو هغوي لره، او نيسي دوي لره او محاصره (راګيروي) كوي دوي لره.

٣- الله تعالى د مشرك عمل نه قبلوي، او مخكې چې كوم عملونه كړي وي هغه هم برباد دی.

اودليل پري د الله تعالى دا قول دی: ﴿ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ ﴾ [الفرقان: ٢٣].

ترجمه: او قصد كړی مونږ هغه عمل ته چې دوي كړي وي، نو ګرځولي دي مونږ دوړه آلوځول شوي.

او د الله تعالى دا قول دی: ﴿ وَلَقَدْ أُوحِىَ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ ﴾ [الزمر: ٦٥].

ترجمه: يقيناً وحي كړی شوی تاته او هغه كسانو ته چې مخكې ستا څخه ؤ، ددی چې بالفرض كه تا شرك وكړو نو برباد به شي عمل ستا ، او شی به ته د تاوانيانو څخه.

**۴- جنت ته ننوتل په مشرك حراميږي، او د دوزخ په اور كښې به هميشه لپاره وي.**

**دليل پري د الله تعالى دا قول دى:** ﴿إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّـٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾ [المائدة: ٧٢].

**ترجمه:** يقيناً شان دا دى څوك چې شرك وكړي الله تعالى سره؛ نو الله تعالى حرام(بند)كړي پدي باندي جنت، اوځاى د ورګرځيدلو ده اور دى، او نشته د ظالمانو لپاره څوك مدد كونكي.

***

# إسلام ماتونكي شيان

په دی سره مقصد د إسلام فاسدونکي او باطلونکي شيان دي چې هغه ډير دي خو ليکن ډير واقع کيدونکي او ډير خطرناك ددغو شيانو لس (١٠) دي.

(١) الله تعالى سره په عبادت کښې شرك کول، او ددی د جملي څخه غير الله لپاره حلالکه کول دي، لکه څوك چې د پيريانو او قبرونو لپاره ذبحه (حلالکه) کوي.

اودليل پري د الله تعالى دا قول دی: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾[النساء: ١١٦].

ترجمه: بيشکه الله تعالى نه ښښي شرك کول د هغه سره، او ښښي هغه (ګناهونه) چې کم وي د شرك څخه چا لره چې الله تعالى وغواړي.

(٢) څوك چې د الله تعالى او خپل ځان تر منځ واسطي جوړوي چې د هغوي څخه دعاء غواړي، او د هغوي څخه د شفاعت غوښتنه کوي، او يا په هغوي توکل (ځان سپارل) کوي، نو دا په اجماع سره کافر دی.

(٣) څوك چې مشرکان کافر نه ګڼي يا د هغوي په کفر کښې

شك كوي، يا د هغوي مذهب (دين) ته صحيح وائي نو دا كافر دی.

(۴) څوك چې دا عقيده لري چې د پيغمبر ﷺ د طريقي څخه علاوه بله طريقه ډيره كامله ده، او يا دا عقيده لري چې د نورو فيصلي د پيغمبر ﷺ د فيصلو څخه بهتره دي؛ لكه هغه خلك چې د طاغوتيانو فيصلي ته غوره والي وركوي د پيغمبر ﷺ په فيصلو باندي نو دا كافر دی.

(۵) څوك چې د پيغمبر ﷺ راوړي دين څخه يو شی بد ګڼي اګر كه عمل ورباندي كوي نو دا كافر دی.

(۶) څوك چې د پيغمبر ﷺ د دين يو شي پوري مسخري وكړي، يا په ثواب او يا عقاب (سزا) پوري نو دا كافر دي.

اودليل ورباندي د الله تعالى دا قول دی: ﴿ قُلْ أَبِاللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا۟ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ ﴾[التوبة: ٦٥ – ٦٦].

ترجمه: ورته ووايه آيا په الله پوري او د الله په آيتونو او د هغه پيغمبر ﷺ پوري تاسي مسخري كولی، بهانه مه كوئ يقيناً تاسي كفر كړی وروسته د إيمان ستاسي څخه.

(۷) سحر (جادو) او د جادو څخه صرف (يعني:ديو بل سره كينه اوبغض پيداء كول) او عطف (يعني: ديو بل سره مينه محبت پيداء كول) هم دی؛ نو څوك چې دا كار وكړي يا پري راضي شي

نو کافر شو.

او دلیل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾[البقرة: ١٠٢].

ترجمه: او ښودنه به نه کوله دی دواړو هیچا ته تر دی پوري چې دوي به وویل: (په طریقه د نصیحت) یقیناً مونږ ستاسي لپاره امتحان یو پس کفر مه کوه (په سحر کولو سره).

(٨) مشرکانو سره دلبازي کول، او هغوي سره د مسلمانانو په خلاف مدد کول.

او دلیل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾﴾ [المائدة: ٥١].

ترجمه: او چا چې دوستانه محبت وکړه ستاسي څخه ددوي سره پس یقیناً دا د هغوي نه دي یقیناً الله تعالی توفیق نه ورکوي قوم ظالم (عنادیانو) ته.

(٩) څوك چې داعقیده ولري چې ځینو خلکو ته د محمد ﷺ د

شريعت څخه وتل جائز دي؛ نو دا کافر دی،

او دليل پري د الله تعالى دا قول دی: ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾ ﴾ [آل عمران: ٨٥].

ترجمه: څوك چې طلب کړي غير د إسلام څخه بل دين پس هيڅيري به قبول نکړی شي د هغه څخه، اووي به دا په آخرت کښې د تاوانيانو څخه.

.(١٠) د الله د دين څخه مخ اړول چې نه يې زده کوي، او نه ورباندی عمل کوي.

او دليل پری د الله تعالى دا قول دی: ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ ۚ إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ ﴾ [السجدة: ٢٢].

ترجمه: او څوك ډير زيات ظالم دی د هغه چا څخه چې بيان کړی شي هغه ته آياتونه د رب، بيا مخ اړوي د هغو څخه، يقيناً مونږ د مجرمانو څخه بدله اخستونکي يو.

**❁ دوه خبرداریانې:**

**اول:** پدی ټولو إسلام ماتونکو شیانو کښې فرق نشته په ما بین د مسخره کونکي او قصدکونکي، او ویریدونکي کښې، مګر مکره (یعني چې زور پری کړی شوی وي).

**دوهم:** إسلام ماتونکي دا شیان د ټولو لوي خطرناك دي، او ډیر واقع کیدونکي دي؛ نو مسلمان ته لازم دي چې ځان ورڅخه بچ کړي، او په خپل ځان کښې تري ویره وکړي.

❁ ❁ ❁

# په طاغوت کفر کول

## ❋ د طاغوت تعریف:

طاغوت په لغت کښې د طغیان څخه اخستل شوی، او معنی یې د حد څخه تجاوز دي.

او په شریعت کښې طاغوت: هر هغه شي ته ویل کیږي چې بنده په هغه سره د حد څخه تجاوز وکړي که هغه معبود وي، او که هغه متبوع (تابعداري کړی شوي) وي او که مطاع (خبره منل شوي) وي.

## ❋ په طاغوت باندي د کفر کولو واجب والي:

هغه څه چې الله په بني آدم (انسان) اول لازم کړی هغه په طاغوت باندي کفر کول دي، او په الله تعالی باندي إیمان لرل دی.

اودلیل پری د الله تعالی دا قول دی: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

ترجمه: یقیناً لیږلي مونږ په هر امت کښې پیغمبر (پدی خبره) چې بندګي خاص کړی د الله تعالی لپاره، او د غیر الله د بندګی څخه ځان وساتئ.

## ✱ په طاغوت باندي د کفر کولو طريقه:

أ- دا چې ته د غير الله د عبادت (بندګي) د باطل والي عقيده ولري، او دا چې ته د غير الله بندګي پريږدی او بده يې وشميري.

ب- دا چې ته د غير الله د عبادت (بندګي) کونکو سره دشمني وکړي، او هغوي کافر وشميري.

## ✱ د طواغيتو ښکاره څيرې:

طواغيت ډير د ي خو ښکاره څيرې ددوي پنځه دي:

١- ابليس لعنه الله.

٢- او هغه څوك چې د الله نه غير د هغه بندګي کيدای شي، او هغه پرې راضي وي.

٣- او هغه څوك چې خلك خپلی بندګۍ ته رابلي.

۴- او هغه څوك چې د غيبو د خبرداري دعوا کوي.

۵- او هغه څوك چې د الله تعالی د نازل کړي نظام څخه بغير په بل نظام فيصلي کوي.

✱✱✱

## درې اصول (بنيادونه):

۱- د بنده خپل رب لره پيژندل.

۲- د بنده خپل دين لره پيژندل.

۳- د بنده خپل پيغمبر لره پيژندل.

او دا په قبر کښې پوښتل (تپوسل) کيږي.

**اولني اصل (بنياد):** د بنده خپل رب لره پيژندل: او په دې کښې څو مسئلې دي:

۱) زمونږ پالونکي الله تعالى دی، هغه ذات چې زمونږ او د ټول مخلوق پالنه يې په خپلو نعمتونو سره کړې.

۲) الله تعالى زمونږ معبود دی، زمونږ لپاره د هغه نه علاوه بل معبود نشته.

۳) مونږ خپل رب (پالونکي) د هغه د قدرت په دلائلو او د هغه په لويو مخلوقاتو پيژنو.

چې د هغه د قدرت د نښو څخه: شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ دي.

او دهغه د مخلوقاتو څخه: اوه اسمانونه، او اوه ځمکې، او هغه څه دي چې په دې ځمکو او اسمانونو او ددې دواړو تر منځ دي.

**دوهم اصل (بنياد):** د بنده خپل دين لره پيژندل ، او پدي كښې څو مسئلې دي:

١) هغه دين چې الله تعالى د هغه څخه علاوه بل دين نه قبلوي هغه إسلامي دين دى.

٢) إسلام: الله تعالى ته په توحيد د تسليميدلو، او د هغه اطاعت ته په غاړه ايښودلو او د شرك او مشركانو څخه د براءت كولو څخه عبارت دي.

٣) د دين دري مرتبې دي:

- إسلام.
- إيمان.
- إحسان.

**دريم اصل (بنياد):** د بنده خپل پيغمبر لره پيژندل چې محمد ﷺ دى. او پديكي يو څو مسئلې دي:

١) د پيغمبر ﷺ نوم او نسب:

محمد ﷺ د عبد الله ځوي دى، چې دا د عبد المطلب ځوي دى، او عبد المطلب د هاشم ځوى دى، او هاشم د قريشود قبيلي څخه دى، او قريش د عربو څخه دى، او عرب د اسماعيل بن

إبراهیم الخلیل علیهما السلام د اولاد څخه دي.

۲) د پیغمبر ﷺ عمر:

د هغه عمر دری شپیته (۶۳) کلونه ؤ، چې څلویښت (۴۰) کلونه یې د پیغمبری څخه مخکي تیر شوي، او درویشت (۲۳) کلونه یې د نبوت او رسالت په دوران کښې تیر کړي.

۳) د هغه نبوت (پیغمبري) او رسالت:

په (اقرأ) سره ورته د پیغمبري خبر ورکړی شوي، او په (المدثر) سره ورته د رسالت (پیغمبري) رسولو حکم کړی شوی.

۴) د هغه استوګن ځای او د هغه د مهاجرت کور.

اصل ځای مکه ده، او مدیني ته یې هجرت کړی ؤ.

۵) د دعوت مقصد یې، الله تعالی هغه لره د شرك څخه د ویره ولو او توحید ته ددعوت ورکولو لپاره رالیږلي دی.

* * *

# کفر

❋ د کفر تعریف:

کفر په لغت کښې د پټولو په معنی راځي.

او په شریعت کښې کفر د إسلام ضد (مقابل) دي.

❋ د کفر انواع (قسمونه):

١- لوي کفر.

٢- وړوکي کفر.

❋ لوي کفر، او پدي کی یو څو مسئلي دي:

أ) د کفر تعریف:

کفر په الله تعالی او پیغمبرانو ﷺ باندي إیمان نه لرلو ته وائي، بیا برابره خبره ده که هغوي ته ددروغو نسبت کوي او که نه یې کوي.

ب) د کفر حکم:

کفر د دین څخه ویستل کوي.

ج) د لوي کفر انواع (قسمونه) پنځه دي:

۱) كفر التكذيب (دروغژن ګڼلو كفر).

او دليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾ ﴾ [العنكبوت: ٦٨].

ترجمه: او څوك ډير زيات ظالم دى د هغه چا څخه چې د ځانه جوړوي په الله تعالى باندي دروغ، يا ددروغو نسبت كوي حق ته هر كله چې راشي دوي ته، آيا نشته كافرانو لپاره په جهنم كښې ځاى د اوسيدو.

۲) د انكار او ځان لوي شميرلو كفر سره د تصديق كولو نه.

او دليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٤﴾ ﴾ [البقرة: ٣٤].

ترجمه: كله چې مونږ ملائكو ته وويل: آدم عليه السلام ته سجده وكړئ نو هغوي سجده وكړه مګر ابليس سجده ونكړه انكار يې وكړو د سجدي كولو څخه، او ځان يې غټ وشميرلو، او شو ابليس د كافرانو څخه.

۳) د شك كفر: او دا د ګمان كولو كفر دي.

او دليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَنْ تَبِيدَ هَٰذِهِ أَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُدِدْتُ إِلَىٰ رَبِّي

لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّىٓ أَحَدًا ﴿٣٨﴾ ﴾ [الكهف: ٣٥ – ٣٨].

ترجمه: او ورننوتلو خپل باغ ته، او حال دا چې ظلم کونکي ؤ په خپل ځان باندي؛ نو وويل ګمان نه کوم چې دا به چيري هلاك شي، او د قيامت د قائميدو ګمان نه کوم، او که بالفرض زما حضور خپل رب ته (په ورځ د قيامت) وکړی شي؛ نو ددی څخه به ډير ښه ځای د ورتلو ومومم، او ملګري يې ورته وويل: حال دا چې جواب يې ورلره ورکولو آيا ته کفر (شرك) کوي هغه ذات سره چې ته يې پيدا کړی دخاورو څخه اوبيايې د هغي نطفي (څاڅکي) څخه اوبيا يې ستا څخه سړي جوړ کړی، خو ليکن زه وايم: چې الله تعالی زما رب دی او زه د خپل رب سره هيڅوك نه شريك کوم

۴) د إعراض (مخ اړولو) کفر.

او دليل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَمَّآ أُنذِرُوا۟ مُعْرِضُونَ ﴾ [الأحقاف: ٣].

ترجمه: کافران د هغه څه څخه چې دوي ته پري ويره ورکيدی شي مخ اړونکي دي.

**٥**) د نفاق (منافقت) کولو کفر.

او دلیل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٣﴾ ﴾ [المنافقون: ٣].

ترجمه: دا پدی وجه دی چې دوي إیمان راوړی دی، او بیا یې کفر کړی؛ نو مهر وهل شوی په زړونو ددوي؛ نو دوي نه پوهیږي.

❋ وړوکي کفر: او پدي کښې څو مسئلې دي:

أ- د وړوکي کفر تعریف:

وړوکي کفر: هره هغه ګناه چې په کتاب (قرآن) او سنت (حدیثو) کښې ورته کفر ویل شوي وي، او د لوي کفر حد ته نه رسیږي.

ب- د وړوکي کفر حکم:

وړوکی کفر حرام دی، او د لویو ګناهونو څخه دی، لیکن کونکي یې د إسلامي دین څخه نه خارجوي.

ج- د وړوکي کفر مثالونه:

١- د نعمت کفران (ناشکري) الله تعالی فرمائي: ﴿ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ ﴾ [النحل: ١١٢].

ترجمه: نو پس کفر یې (ناشکري) وکړو د الله تعالی په نعمتونو.

٢- د يو مسلمان بل مسلمان ورور سره جنګ کول: "سباب المسلم فسوق وقتاله كفر" [متفق عليه].

ترجمه: کنځلی کول مسلمان ته ګناه ده او جنګ کول ورسره کفر دی.

٣- د نورو په نسبونو کښې طعن (بدي بيانول) کول.

٤- په مړي باندي وير کول: "اثنتان في الناس هما بهم كفر: الطعن في النسب والنياحة على الميت" [رواه مسلم].

ترجمه: دوه شيان په خلکو کښې کفر دی: يو په نسبونو کښې طعن (بدي بيانول) کول، او بل په مړي باندي وير کول.

***

# النفاق (منافقت)

❋ د نفاق (منافقت) تعريف:

نفاق په لغت کښې د يو شي پټولو ته ويل کيږي.

او په شريعت کښې نفاق (منافقت) د إسلام ښکاره کولو، او د کفر او شر پټولو ته ويل کيږي.

❋ د نفاق (منافقت) انواع (قسمونه):

د نفاق (منافقت) دوه قسمونه دي:

١ - اعتقادي غټ نفاق (منافقت).

٢ - عملي وړوکي نفاق (منافقت).

او تاته د دواړو بيان کوم.

❋ اعتقادي نفاق (عقيدوي منافقت):

او په ديکي څو مسألي دي:

أ- د اعتقادي نفاق تعريف:

دا هغه لوي منافقت دی چې خاوند يې إسلام ښکاره کوي او کفر پټ ساتي.

ب- ددی منافقت حکم:

ددی منافقت حکم دا دی چې د دين څخه په کلي (ټوله) توګه ويستونکي دی، او خاوند به يې د جهنم په لاندينې طبقه کښې وي.

ج- ددی منافقت انواع (قسمونه) شپږ دي:

١- پيغمبر ﷺ دروغژن ګڼل.

٢- ځني هغه څه دروغژن ګڼل چې پيغمبر ﷺ راوړی وي.

٣- پيغمبر ﷺ سره بغض (کينه) کول.

۴- ځني هغه څه سره بغض (کينه) کول چې پيغمبر راوړي.

۵- پيغمبر ﷺ د دين په ناکامی خوشحاله کيدل.

٦- پيغمبر ﷺ د دين غلبه (کاميابي) بده ګڼل.

❋ عملي نفاق (منافقت):

او پدي کښې څو مسألي دي:

أ- ددی نفاق تعريف:

دا منافقت عبارت دی د منافقانو د عملونو (کارونو) څخه د

يو عمل تر سره کولو څخه سره د إيمان د باقي والي په زړه کښې.

ب- ددی منافقت حکم:

حکم يې دادی چې د دين څخه خارجول نکوي، خو ليکن حرام دی، او د غټو ګناهونو څخه دی، او خاوند کښې إيمان او منافقت دواړوه موجود دي، خو کله که دغه منافقت ډير شي نو ددی په سبب بيا خالص منافق جوړيږي.

ج- ددی نفاق (منافقت) يو څو مثالونه:

١- په خبرو کښې دروغ ويل: "إذا حدث كذب" کله چې خبري کوي نو دروغ پکی وائي.

٢- د وعدو خلاف کول: "وإذا وعد أخلف" کله چې وعده وکړي نو وعده ماتوي.

٣- په امانت کښې خيانت کول: "وإذا اؤتمن خان" کله چې ورته امانت وسپارل شي نو خيانت ورپکي کوي.

٤- په جنګ جدل کښې کنځلي کول: "وإذا خاصم فجر" کله چې تر مينځ جنګ جدل راشي نو کنځلي کوي.

٥- په وعدو (لوظونو) کښې خيانت کول: "وإذا عاهد غدر" کله چې لوظ وکړي نو بې لوظي کوي.

٦- په مسجد او جماعت لمونځ کښې سستي کوي: ﴿وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ﴾ [النساء: ١٤٢]. ترجمه: کله چې لمانځه ته ودرېږي نو ودرېږي په ناراستي.

٧- په نيکو عملونو کښې ځان ښودنه کوي: ﴿يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ﴾ [النساء: ١٤٢]. ترجمه: ځان ښائي خلکو ته.

***

# الولاء والبراء (محبت كول، او علاقات پرېښودل)

* په لغت کښې ددې دواړو تعريفونه:

ولاء: په لغت کښې د ولاية څخه اخستل شوی، او ولاية محبت (مينې) ته وائي.

البراء: په لغت کښې د بری مصدر دی په معنی د قطع (پرېکولو)، او پدې معنی پدې وينا کښې راغلی "بری القلم" يعني قلم يې وتراشه.

* په اصطلاح کښې ددې دواړو تعريفونه:

**ولاء**: معنی: د مسلمانانو سره محبت کول، او د هغوي مدد او عزت او درناوی کول، او هغوي ته ځان نږدې کول.

**براء**: معنی: د کافرانو سره بغض (کينه) ساتل، او د هغوي څخه لرې ځان ساتل، او د هغوي کومك نه کول.

* د ولاء او براء اهميت:

١- دا د إسلامي عقيدې د اصولو (بنيادونو) څخه دی.

٢- د إيمان مضبوطه کړی ده.

٣- دا د إبراهيم عليه السلام او د محمد ﷺ ملة (دين) څخه دی.

❋ د موالاة (دوستاني) قسمونه:

موالاة په دوه قسمه دی:

١- تولي.

٢- موالاة.

❋ تولي: او پدي کښې څو مسألې دي:

أ- د تولي معنی:

- د شرك او مشرکانو او کفر او کافرانو سره محبت کول.

- د مسلمانانو په خلاف د کافرانو کومك کول.

ب- د تولي حکم: دا يو لوي کفر او د إسلام څخه مرتد والي دي.

ج- دليل يې: د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ﴾ [المائدة: ٥١].

ترجمه: څوك چې محبت کوي د هغوي (کافرانو) سره نو هغه ددوي څخه دی.

❋ موالاة: او پدي کښې څو مسألي دي:

أ- د موالاة تعريف او ضابط:

موالاة: د کافرانو او مشرکانو سره د دنيا له وجي محبت (مينه) کول، خو پدي کي د هغوي سره مدد کول نه وي، که دغه ورپکي وي نو بيا دا تولِّي ده.

ب- د موالاة حکم: موالاة حرامه ده، او د لويو ګناهونو څخه ده.

ج- دليل يې: د الله تعالى دا قول دی: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ ﴾ [الممتحنة: ١].

ترجمه: ای إيماندارو مه نيسئ زما او ستاسي دوشمن په دوستانی سره، چې تاسي پيش کوئ هغوي ته د دوستانی خبرې.

❋ کافرو سره د محبت ښکارندوي نښې نښاني: او ددغو دجملي څخه:

١- په جامو او خبرو کښې کافرو سره مشابهت کول.

٢- د کافرو ملکونو ته د چکر او نفسي خواهش پوره کولو په مقصد سفر کول.

٣- د کافرو په ملکونو کښې اوسيدل او د هغوي د ملکونو څخه د دين د بچوالي په خاطر انتقال نه کول.

۴- د هغوي په تاريخ خپل تاريخ معلومول، په خاصه توګه

هغه تاريخ چې د هغوي د اخترونو او لمانځنو څخه تعبير کوي لکه ميلادي تاريخ.

**۵**- هغوي سره د هغوي په اخترو کښې شرکت کول، او يا د هغوي د اخترو په لمانځلو کښې د هغوي سره مدد کول، او يا هغوي ته د هغوي د اخترو په مناسبت مبارکي ورکول، او يا د هغوي د اخترو لمانځلو ته حاضريدل.

**۶**- د هغوي نومونه کيښودل.

❋❋❋

## د خلکو قسمونه په هغه څه کښې چې د هغوي په هکله د ولاء او براء لازم والي دي

خلك د ولاء (محبت كول) او براء (علاقات پريښودل) په باره كښې درى قسمه دي:

**اول قسم:** هغه خلك دي چې هغوي سره خالصه دوستانه كيداى شي چې هيڅ قسم دوشمني ورپكي نه وي، او دا قسم خلك مخلص مسلمانان دي.

**دوهم قسم:** هغه خلك دي چې هغوي سره به خالص دوشمني او بغض (كينه) كيداى شي، چې هيڅ قسم محبت او دوستانه ورپكي نه وي، او دا قسم خلك خالص كافران دي.

**دريم قسم:** هغه خلك دي، چې هغوي سره له يو پلوه محبت كيداى شي،او د بل پلوه ورسره بغض (كينه) كيداى شي، او دوي گنهگاران مسلمانان دي، ددوي سره پدى وجه محبت (مينه) كيدلاى شي چې پدوي كښې إيمان شته، او بغض (كينه) ورسره پدى وجه كيدلاى شي چې پدوي كښې هغه گناه شته چې هغه د كفر او شرك څخه ښكته ده.

***

# إسلام

❋ إسلام په لغت کښې غاړه ايښودل او تسليميدل او عاجزي کول دي.

❋ او إسلام په شريعت کښې دا:

١- الله ته په توحيد سره تسليميدل.

٢- الله ته په اطاعت کولو سره غاړه ايښودل.

٣- د شرك او مشركانو څخه بې زاري ښکاره کول.

❋ عام او خاص إسلام:

أ- إسلام په عامه معنى الله تعالى لره عبادت کول په هغې طريقه چې مقرر کړی ده، د هغه وخت څخه چې د پيغمبرانو راليږل يې شروع کړي تر ورځې د قيامت پورې.

ب- إسلام په خاصه معنى: په هغه څه پورې خاص دي چې محمد ﷺ په هغه راليږل شوی.

❋❋❋

# د إسلام أركان

❋ د إسلام پنځه أركان دي:

١) د(لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله) كلمي ګواهي كول.

٢) د لمونځ ودرول (پابندي كول).

٣) زكات وركول.

۴) د روژې د مياشتي روژه نيول.

۵) د بيت الله حج كول، هغه چا لپاره چې بيت الله ته د رسيدلو طاقت ولري.

❋ او دا ركنونه په دوه قسمه دي:

أ- دا هغه أركان دي چې (د إسلام) ابادي (جوړښت) نه ترسره (قائمه) كيږي د هغي ځخه بغير، او دوي ته اساسي أركان يعني بنيادي ركنونه وائي، او دا دوه أركان دي:

١- د (لا إله إلا الله او د أن محمداً رسول الله) ګواهي كول.

٢- د لمونځ ودرول (پابندګي كول).

ب- دا هغه أركان دي چې (د إسلام) ابادي (جوړښت) نه پوره كيږي مګر په دغو سره او دي ته (د تمام أركان) يعني د پوروالي ركنونه وائي،او دا دري دي:

١- زكات وركول.

٢- د روژى د مياشتي روژه نيول.

٣- د بيت الله حج كول.

❋د إسلام د أركانو دليل:

د پيغمبر ﷺ دا قول دى: "بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، وإقام الصلاة، وإيتاء الزكاة، وحج البيت، وصوم رمضان" [متفق عليه].

ترجمه: د إسلام جوړښت د پنځه شيانو څخه عبارت دي: ددى ګواهي كول چې لائق د عبادت نشته مګر يو الله تعالى دى، او محمد ﷺ د الله تعالى رسول (پيغمبر) دى.

او د لمانځه ودرول (پابندي كول)، او د زكات وركول، او د بيت الله حج كول، او د روژي د مياشتي روژه نيول.

❋❋❋

# إيمان

❋ إيمان په لغت کښې تصديق او اقرار ته وائي.

❋ د اهل سنت والجماعة په نزد إيمان عبارت دی.

١ - د زړه د عقيدي څخه.

٢ - او د ژبی د وينا څخه.

٣ - او په اندامونو د عمل کولو څخه.

۴ - په اطاعت کولو ډيريږي.

۵ - په گناه کولو کميږي.

❋❋❋

# د إيمان أركان

❋ د إيمان اركان شپږ دي:

۱- په الله تعالی باندي إيمان لرل.

۲- د الله تعالی په ملائکو باندي إيمان لرل.

۳- د الله تعالی په کتابونو باندي إيمان لرل.

۴- د الله تعالی په پيغمبرانو باندي إيمان لرل.

۵- په ورځ د آخرت (قيامت) باندي إيمان لرل.

۶- د خير او شر په تقدير باندي إيمان لرل.

او تاته د هغه څه ذکر کوم چې هر يو رکن پري مشتمل دی:

(۱) په الله تعالی باندي إيمان لرل پرڅلوروشيانو مشتمل دی:

۱- د الله تعالی په موجودوالي إيمان لرل.

۲- مخلوق لره د الله په ربوبيت (پالنه) إيمان لرل.

۳- دالله تعالی په الوهيت (د عبادت په حقداري) إيمان لرل.

۴- د الله تعالی په نومونو او صفتونو إيمان لرل.

(۲) په ملائکو باندي إيمان لرل په څلورو شيانو مشتمل دي:

۱- د ملائکو په موجود والي إيمان لرل.

۲- د ملائکو څخه په هغو ملائکو إيمان لرل چې مونږ ته د هغوي نومونه معلوم وي لکه (جبرائيل)، او همدارنګه په هغو ملائکو إيمان لرل چې مونږ ته د هغوي نومونه نه وي معلوم؛ نو په هغوي به إجمالي إيمان لرو.

۳- د ملائکو په هغو صفتونو إيمان لرل چې مونږ ته معلوم وي.

۴- د ملائکو په هغو اعمالو (کارونو) إيمان لرل چې هغوي يې د الله په امر سره تر سره کوي او مونږ ته معلوم وي.

(۳) په کتابونو باندي إيمان لرل په څلورو شيانو مشتمل دی:

۱- پدی إيمان لرل چې ددی کتابونو نازلوالی د الله له طرف نه حق دی.

۲- په هغو کتابونو إيمان لرل چې مونږ ته په نومونو باندي معلوم دي لکه قرآن او تورات او انجيل.

۳- تصديق (باور) کول په هغو واقعاتو باندي چې صحيح ثابت وي، لکه د قرآن کريم واقعات، يا هغه د مخکنو کتابونو واقعات چې بدل کړی شوي او تحريف کړی شوي نه وي، او زمونږ په شريعت کښې د هغو رانقلول صحيح وي.

۴- عمل کول په هغو احکامو د هغو چې منسوخ شوي نه وي،

او راضي کيدل او تسليميدل دغو حکمونو ته، که مونږ ددغو په حکمتونو پوهيږو يا پري نه پوهيږو، او ټول مخکني کتابونه په قرآن سره منسوخ شوي دي.

(۴) په پيغمبرانو إيمان لرل په څلورو شيانو مشتمل دي:

۱- پدی إيمان لرل چې ددوي رسالت (پيغمبري) د الله لطرف نه حق ده، نو چا چې ددوي څخه د يو تن په رسالت (پيغمبری) کفر وکړو نو دا د ټولو پيغمبرانو په پيغمبری کافر شو.

۲- له دوي څخه په نامه سره إيمان لرل په هغو باندي چې مونږ ته په نوم معلوم وي، لکه: محمد ، إبراهيم، موسی، عيسی او نوح عليهم السلام.

۳- د هغو واقعاتو تصديق کول چې ددوي څخه صحيح ثابت شوي وي.

۴- ددوي څخه د هغه چا په شريعت عمل کول چې مونږ ته راليږل شوي دي، چې هغه محمد ﷺ دي، او دا د ټول آخري پيغمبر دی چې ټولو خلکو ته ليږل شوي.

(۵) په ورځ د آخرت إيمان لرل په دری شيانو مشتمل دی:

١ - په دوباره ژوندون إيمان لرل.

٢ - په حساب او بدلی إيمان لرل.

٣ - په جنت او جهنم إيمان لرل.

او په ورځ د آخرت باندي إيمان لرلو کښې په هر هغه څه إيمان لرل داخل دي چې د مرګ څخه وروسته راځي، او د دغی د جملی څخه د قبر امتحان او عذاب او نعمتونه دي.

(٦) په تقدير إيمان لرل په څلورو شيانو مشتمل دی:

١ - پدی إيمان لرل چې الله تعالی په هر شي په اجمالي او تفصيلي طريقه عالم دی.

٢ - پدی إيمان لرل چې الله تعالی دا هر څه په لوح محفوظ کښې ليکلی.

٣ - پدی إيمان لرل چې ټول کائنات (مخلوقات) د الله تعالی په اراده (مشيئت) موجوديږي.

٤ - پدی إيمان لرل چې ټول کائنات (مخلوقات) د الله پيدا ايښت دی هم په اعتبار د ذاتونو او هم په اعتبار د صفتونو او حرکتونو سره.

❋ د إيمان په شپږو أرکانو باندي دليل:

١- الله تعالی فرمائي: ﴿ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ ﴾ [البقرة: ١٧٧].

ترجمه: نده نیکي (خالص) دا خبره چې وګرځوي مخونه خپل طرف د مشرق او د مغرب ته، خو لیکن نیکي د هغه چا ده چې إیمان یې راوړی وي په الله او په ورځ وروستني (د قیامت) او په ملائکو او کتابونو او پیغمبرانو.

٢- دا قول د الله تعالی: ﴿ إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ ﴾ [القمر: ٤٩].

ترجمه: یقیناً مونږ هر شی په انداز (تقدیر) پیدا کړی دی.

٣- او د سنت (حدیثو) څخه دلیل هغه دی چې په حدیث د جبریل ﷺ کښې راغلی، کله چې هغه د نبي ﷺ نه پوښتنه وکړه چې وویل: "أخبرني عن الإیمان؟ قال: "أن تؤمن بالله وملائکته وکتبه ورسله والیوم الآخر وتؤمن بالقدر خیره وشره" {رواه مسلم}.

ترجمه: ماته خبر راکړه د إیمان په باره کښې؟ نو هغه ورته وویل: چې إیمان دا دی چې ته إیمان راوړی په الله تعالی، او د هغه په ملائکو او کتابونو او رسولانو (پیغمبرانو) او په ورځ وروستني (قیامت)، او د خیر او شر په تقدیر إیمان راوړې.

❋❋❋

# إحسان

✵ د إحسان تعريف:

إحسان په لغت کښې د بدوالي مقابل دی.

او په شريعت کښې: د الله تعالی نه په پټه او ښکاره ويره کول.

✵ د إحسان أركان – د إحسان يو ركن دی:

او هغه دا دی "أن تعبد الله كأنك تراه، فإن لم تكن تراه فإنه يراك".

ترجمه: چې ته د الله تعالی داسې بندګي وکړې لکه ته چې هغه وينې که چيرې ته هغه نه وينې نو هغه خو تا لره وينې.

✵ د إحسان قسمونه:

د إحسان دوه قسمونه دي:

١ - مخلوق سره إحسان کول: او دا په څلورو شيانو کښې وي:

أ- مال.

ب- جاه (مرتبه).

ج- علم.

د- بدن.

٢- دخالق په عبادت کښې إحسان کول، اوددی دوه مرتبې دی:

**اولنى مرتبه:** د مشاهدي مرتبه ده (أن تعبد الله كأنك تراه) چې د الله بندګي داسي وکړي لکه چې ته هغه ويني، او دا د دوارو مرتبو بهترينه مرتبه ده.

**دوهمه مرتبه:** د اطلاع او مراقبي مرتبه "فإن لم تكن تراه فإنه يراك" كه ته چيري هغه نه ويني نو هغه خو تا ويني.

❋ په إحسان باندي دليل:

١) د الله تعالى دا قول دى: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ١٢٨ ﴾ [النحل: ١٢٨].

ترجمه: بيشكه الله تعالى خاص ملګرى د هغو كسانو دى چې د الله څخه ويريږي، او د هغو كسانو چې خائسته كارونه كوي.

٢) د نبي ﷺ قول كله چې ترى جبريل عليه السلام د إحسان په باره كښې پوښتنه وكړو " أن تعبد الله كأنك تراه، فإن لم تكن تراه فإنه يراك" {رواه مسلم}.

ترجمه: دا چې ته د الله تعالى داسى بندګي وكړى لكه چې ته هغه ويني، كه چيري ته هغه نه ويني نو هغه خو تا ويني.

❋❋❋

# د إسلام او إيمان او إحسان تر منځ علاقه(تعلق)

**اول:** کله چې دا درې واړه شيان په يو ځاى ذکر کړى شي نو د هر يو لپاره بيا خاصه معنى وي:

أ- نو په إسلام سره يواځي ظاهري (ښکاره) عملونه مراد وي.

ب- او په إيمان سره غيبي (پټ) شيان مراد وي.

ت-او په إحسان سره د دين اوچته درجه مراد وي.

**دوهم:** کله چې دا درې واړه شيان يواځي يواځي ذکر شي:

أ- کله چې إسلام يواځي ذکر شي نو إيمان ورپکي داخليږي.

ب- کله چې إيمان يواځي ذکر شي نو إسلام ورپکي داخليږي.

ت- کله چې إحسان يواځي ذکر شي، نو إسلام او إيمان دواړه ورپکي داخليږي.

***

# عبادت

❋ د عبادت تعريف:

عبادت په لغت کښې عاجزي او تابع کيدلو ته وائي.

او په شريعت کښې: دا يو جامع (شامل) نوم دى د هغه څه لپاره چې الله تعالى يې خوښوي، او هغه پرې راضي کيږي د وېناګانو او کارونو څخه که ښکاره وي، او که پټ وي.

❋ په مکلفينو باندې د شريعت مقرر شوو حکمونو ته د عبادت د نوم کيښودلو سبب:

دا ځکه چې دوي هغه مني او کوي يې، او دوي الله ته عاجزي کونکي او تابع کيدونکي دي.

❋ د عباد ت أرکان دري دي:

١ - محبت (مينه) کول.

٢ - خوف (ويره) کول.

٣ - رجاء (اميد) لرل.

❋ د عبادت د صحيح والي او قبليدو شرطونه:

د عبادت دصحيح والي او قبليدو دوه شرطونه دي:

١- اخلاص: دليل پرى د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: او دوي ته امر نه ؤ كړى شوى مگر ددى چې بندگي وكړي الله لره چې خالص كونكي وي هغه لره بندگي.

٢- د پيغمبر ﷺ تابعداري: دليل پري د نبي ﷺ دا قول دى: "من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد" [متفق عليه].

ترجمه: چا چې يو عمل وكړو چې پدغه عمل باندي زمونږ حكم نه وي موجود نو دغه عمل مردود (نامنظور) دى.

❋ عبادت په دوه قسمه دى:

١- عبادتِ كَوْنِي.

٢- عبادت شرعي.

❋ د عبادت كوني تعريف:

دا تابع كيدل دي د الله تعالى كَوْنِيْ امر (حكم) ته، او ودا ټولو مخلوقاتو ته شامل دي، هيڅ يو كس تري نشي خارجيدلى، كه مؤمن وي كه كافر، كه نيك عمله وي او كه بدعمله وي.

دليل پرى د الله تعالى دا قول دى: ﴿ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا (٩٣) ﴾ [مريم: ٩٣].

ترجمه: ندي ټول هغه چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي مګر راتلونکي دي الله تعالی ته په بندګی سره.

* د شرعي عبادت تعریف: دا غاړه کیښودل دي د الله تعالی شرعي امر ته.

ا ودا عبادت خاص دی په هغه چا پوری چې د الله اطاعت کوي، او د هغه څه تابعداري کوي چې پیغمبرانو راوړي.

ددی عبادت دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿ وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا ﴾ [الفرقان: ٦٣].

ترجمه: او خاص بندګان د الله تعالی هغه کسان دي چې ګرځي دوي په ځمکه باندي په نرمي (یعني په شرعي طریقي ژوند تیروي).

***

# د توحيد العبادت يوه مهمه قاعدة

❋ د قاعدي عبارت:

هر يو كار (عمل) چې دا وربكي ثابت وي چې دا عبادت دی، نو الله تعالى لپاره يې كول توحيد دی، او د بل چا لپاره يې كول الله تعالى سره شرك او هم مثله جوړول دي.

* ددی قاعدي دليل:

ددی قاعدي دليلونه ډير دي خو ځني ددغو دلائلو څخه د الله تعالى دا قول دی: ﴿وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـًٔا﴾ [النساء: ٣٦].

ترجمه: الله لره بندګي خاص كړئ، او هغه سره هيڅ قسم شرك مه كوئ.

او دالله تعالى دا قول دی: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ﴾ [الإسراء: ٢٣].

ترجمه: او فيصله كړی رب ستا چې بندګي به نه كوئ مګر يواځي د الله تعالى.

او د الله تعالى دا قول دی: ﴿قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـًٔا﴾ [الأنعام: ١٥١].

ترجمه: او وايه ورته راشئ چې ولولم تاسي ته هغه چې حرام كړي رب ستاسي په تاسي هغه دا چې الله تعالى سره هيڅ قسم

شرك مه كوئ.

❋ مثالونه:

١ - دعاء عبادت دی، د الله تعالی څخه يې دبل چا نه غوښتل شرك دی.

٢- خوف (ويره) كول عبادت دی،د الله تعالی څخه بغير د بل چا نه ويره كول شرك دی.

٣- ذبحه (حلالكه) عبادت دی،د الله تعالی څخه بغير د بل چا لپاره ذبحه (حلالكه) كول شرك دی.

۴- نذر (منخته) عبادت دی،دالله تعالی څخه بغير د بل چا لپاره منخته كول شرك دی.

❋❋❋

# د محبت قسمونه

محبت څلورو قسمونو ته تقسيمېږي:

(١) هغه محبت چې عبادت دی:

❋ او دا الله تعالى سره محبت کول دي.

❋ او د هغه څه سره محبت کول دي چې الله تعالى ورسره محبت کوي.

او دليل پرې د الله تعالى دا قول دی: ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ﴾ [البقرة: ١٦٥].

ترجمه: او هغه کسان چې إيمان لري ډېر زيات محبت کوي د الله تعالى سره.

(٢) هغه محبت چې شرك دی:

او هغه د غير الله سره محبت کول دي، سره د عاجزی او تعظيم کولو څخه دغه محبوب ته پداسې طريقه چې د الله تعالى نه علاوه د بل چا لپاره دغه تعظيم او عاجزي لائق نه وي.

او دليل پرې د الله تعالى دا قول دی: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ﴾ [البقرة: ١٦٥].

ترجمه: ځني د خلکو ځخه هغه څوك دي چې الله تعالى سره نور شريكان جوړوي چې هغوي سره محبت كوي د الله تعالى د محبت پشان.

(۳) هغه محبت چې ګناه ده:

او هغه لكه د ګناهونو او بدعتونو او حرامو كارونو سره محبت كول شو:

او دليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلْفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ۝١٩ ﴾ [النور: ١٩].

ترجمه: بيشكه هغه كسان چې خوښوي خوريدل د بدكارۍ په مسلمانانو كښې، د هغوي لپاره دردونكى عذاب دى په دنيا او آخرت كښې، او الله تعالى پوهيږي، او تاسي نه پوهيږئ.

(۴) هغه محبت چې طبيعي محبت دي:

لكه د اولاد او اهل (كور والو) او ځان سره، او دا رنګ د نورو شيانو سره محبت كول، او دا محبت (مينه) كول جائز دي.

او دليل پرى د الله تعالى دا قول دى: ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ

مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ﴿١٤﴾ ﴾ [آل عمران: ١٤].

ترجمه: خائسته کړی شوی خلکو ته محبت د هغه څه چې نفس يې غواړي د زنانو او ځامنو څخه، او خزانې جمع کړی شوي د سرو زرو، او سپينو زرو څخه، او خائسته اسونو او څارويو او فصلونو سره، دا لږه مزه د دنيا د ژوند ده، او د الله سره ډير ښه ځای د ورګرځيدلو دی.

***

# الخوف (ويره)

❋ د خوف (ويري) تعريف:

تعريف يې: دا داثر قبلول دي چې حاصليږي په توقع د هغه كښې هلاكت يا ضرر يا تكليف وي.

❋ د ويري قسمونه:

۱- هغه ويره چې لوي شرك دی.

او دا د پټې ويره ده، او هغه دا چې د غير الله څخه په هغه څه كښې ويره وكړي شي، چې د الله تعالی څخه غير بل څوك په هغه قادر نه وي.

او دليل پرى د الله تعالی دا قول دی: ﴿فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [آل عمران: ۱۷۵].

ترجمه: پس ويره مه كوئ ددوي څخه او ويريږئ زما څخه كه تاسي مؤمنان يې وي.

۲- هغه ويره چې حرامه ده:

او هغه دا چې د خلكو د ويري يو واجب پريږدي، يا يو حرام كار وكړي.

او دليل پرى د الله تعالى دا قول دى: ﴿ فَلَا تَخْشَوُا ٱلنَّاسَ وَٱخْشَوْنِ ﴾ [المائدة: ٤٤].

ترجمه: پس د خلكو څخه ويره مه كوئ او خاص زما څخه وويريږئ.

٣- جائزه ويره:

او هغه طبعي ويره ده؛ لكه د زمري څخه ويره كول، يا د دوشمن او يا ظالم بادشاه څخه ويره كول، او يا دارنګه نور.

اودليل پري دالله تعالى دا قول دى: ﴿ فَأَصْبَحَ فِي ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ ﴾ [القصص: ١٨].

ترجمه: نو صباح يې كړو په ښاركښې په ويره چې انتظار يې كولو.

٤- هغه ويره چې عبادت دى:

او هغه د الله تعالى څخه يوائي ويره كول دي.

اودليل پري د الله تعالى داقول دى: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ ﴾ [الرحمن: ٤٦].

ترجمه: او د هغه چا لپاره چې رب ته د پيش كيدو ويره ورسره وي قسما قسم جنتونه دي.

❋ د الله تعالی څخه د خوف (ویري) قسمونه:

د الله تعالی څخه د خوف (ویري) دوه قسمونه دي:

۱- خوف محمود (ستایلي شوي ویره):

او دا هغه ویره ده چې ستا او د الله څخه د مخالفت کولو تر منځ حائل (مانع) کیږي، نو د واجباتو په اداء کولو او محرماتو څخه په ځان ساتلو درباندي باعث کیږي.

۲- خوف غیر محمود (نه ستایلي شوي ویره):

او دا هغه ویره ده چې بنده لره د الله د رحمت څخه په نا امیدی کولو باعث ګرځي (یعني بنده د الله د رحمت څخه مایوس کوي).

❋❋❋

# رجاء (اميد لرل)

❋ د رجاء (امید) تعريف: د توقع او طمع او امید او د محبوب شي انتظار کولو په معنی راځي.

❋ د رجاء (امید) قسمونه:

د رجاء (امید) دري قسمونه دي:

۱- رجاء (امید) عبادت دی: او هغه یواځي د الله تعالی (وحده لا شريك له) څخه امید ساتل، او دا په دوه قسمه ده:

أ- رجاء محمود (ستائلي شوي امید): اودا هغه امید دی چې عمل او د الله اطاعت ورسره ملګری وي.

ب-رجاء مذموم (بدامید): اودا هغه امیددی چې بغیرد عمل څخه وي، او دا تمنی او دوکه ده.

۲- رجاء (امید) شرکي: او هغه د غیر الله څخه د هغه شي امید ساتل چې د الله څخه غیر د هغه څوك مالك (اختیار مند) نه وي.

۳- طبعي رجاء (امید) لکه ته د یو چا څخه د هغه شي امید وکړي چې هغه يې مالك وي، او قدرت پري لري: لکه ته چاته ووائي: ستا څخه د حاضریدلو امید لرم.

❊ په رجاء (امید) باندي دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿فَمَن يَرْجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا﴾ [الكهف: ۱۱۰].

ترجمه: پس څوک چې امید ساتي د خپل رب د ملاقات؛ نو عمل دي وکړي نیک عمل، او نه دي شریکوي په عبادت (بندګۍ) د رب خپل کښې هیڅوک.

❊❊❊

# توکل (په الله تعالی ځان سپارل)

* د توکل تعريف: توکل په لغت کښې سپارلو او اعتماد کولو ته وائي.

او په شريعت کښې: يواځې په الله تعالی باندې د زړه اعتماد دی.

* شرعي توکل: هغه دی چې درې شيان پکې موجود وي:

۱- په الله تعالی باندې ريښتنی او حقيقي اعتماد.

۲- په الله تعالی باندې بروسه کول، او ددی عقيده لرل چې ټول کارونه د الله تعالی په لاس کښې دی.

۳- د هغو اسبابو کول چې جائز وي.

*** د توکل قسمونه درې دي:**

۱- د عبادت توکل: او دا هغه توکل (اعتماد) دی چې يواځې په الله تعالی باندې وي.

۲- د شرك توکل؛ لکه په غير الله باندې اعتماد کول په هغه څه کښې چې هغه د الله تعالی د خصوصياتو څخه وي.

او يا لکه په اسبابو باندې په کُلي او يا جزئي توگه اعتماد کول.

٣- هغه توكل چې هغه توكيل دی: او هغه دا چې ته يو كس د خپل ځان څخه نائب مقرر كړي چې ستا په ځای هغه كار كوي چې هغه پرې قدرت لري، او دا جائز دی.

* د توكل (اعتماد) او توكيل تر منځ فرق دا دی چې:

توكل د زړه پټ عمل دی.

او توكيل: ښكاره عمل دی.

* په توكل باندي دليل د الله تعالى دا قول دی: ﴿وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [المائدة: ٢٣].

ترجمه: او خاص په الله باندي توكل وكړي (ځان وسپاري) كه تاسي مؤمنان يې وی.

***

# دعاء

❁ دعاء عبادت دی:

دعاء د عبادتونو مهم قسم دی؛ ځکه نبي ﷺ فرمائي: "الدعاء هو العبادة" [رواه الترمذي].

ترجمه: دعاء چې ده همدا عبادت دی.

او الله تعالی فرمائي: ﴿ وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا ﴿١٨﴾ ﴾ [الجن: ١٨].

ترجمه: بیشکه مسجدونه (جوماتونه) د الله لپاره دي نو پدی کښې د عاء مه غواړئ الله سره د بل چا څخه.

❁ د عبادت قسمونه:

عبادت په دوه قسمه دی:

١ - دعبادت دعاء: او ددی څخه مقصد هر هغه عمل دی چې په هغه سره بنده د خپل رب عبادت کوي، مثال لکه: لمونځ کول، حج کول، صدقه (خیرات) کول، روژه نیول.

دیته د دعاء ویلو سبب: ځکه چې پدي کښې د طلب (غوښتنی) معنی ده، ګویا کي انسان چې کله دا عملونه کوي نو د الله څخه دا غواړي چې په ما رحم وکړي، او ما جنت ته داخل کړي.

٢ - دغوښتنی دعاء: او د دی څخه مقصد هغه دعاء ده چې په

هغي كښې غوښتنه او طلب وي، مثال لكه: دا وينا: "اللهم ارحمني رب اغفرلي" يا الله ته په ما رحم وكړى، او ماته بخښنه وكړى.

❋ د الله تعالى نه علاوه د بل چا څخه دعاء غوښتل:

دعاء عبادت دى نو چا چې د بل چا څخه دعاء وغوښتله نو دا مشرك او كافر دى.

او دليل پرى د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرْهَـٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ ﴾ [المؤمنون: ١١٧].

ترجمه: او چا چې رامدد شه وويلو الله تعالى سره بل مددګار ته (چې إله يې ګڼي) چې دى لره پر هغه هيڅ دليل نشته نو يقيناً پوره حساب دده د رب سره دى، يقينا نشي كاميابيدى كافران.

❋❋❋

# الرقى ـ دمونه ـ

❋ د رقى (دمونو) تعريف: رقى (دمونه) په لغت کښې د رُقية جمع ده، او دا په معنى د پناه نيولو دى.

او په شريعت کښې: دا آياتونه او ذکرونه او دعاګاني دي چې په مريض باندي لوستل کيږي.

❋ درقى (دمونو) قسمونه:

دمونه په دوه قسمه دي:

١- جائز دمونه.

٢- ناجائز دمونه.

❋ جائز (روا) دمونه هغه دي چې درى شرطونه پکي موجود وي د علماؤ پدى اتفاق (اجماع) دى:

١- دا چې په واضح اوصفا عربي ژبه باندي وي، او معنى يې معلومه وي.

٢- دا چې د الله تعالى په کلام باندي وي، او يا د هغه په نومونو او صفتونو باندي وي.

٣- دا چې په کلي طريقه به په دمونو اعتماد نه کوي، بلکي دا

عقيده به ساتي چې دم پخپله اثر نه کوي، بلکي د الله تعالى په تقدير باندي کوي.

* ناجائز (ناروا) دمونه: او دا هغه دمونه دي چې د جائز دمونو د شرطونو څخه يکي يو شرط يا زيات نه وي موجود.

* په دمونو باندي د سنت (حديثو) څخه دليل: د پيغمبر ﷺ دا قول دی: "إن الرقى والتمائم والتولة شرك" [رواه أحمد وأبو داود].

ترجمه: بيشکه دم درهي او تعويذونه او کوډي جادو شرك دی.

او د پيغمبر ﷺ دا قول دی: "أعرضوا عليَّ رقاكم، لا بأس بالرقى ما لم يكن فيه شرك" [رواه مسلم].

ترجمه: ماته خپل دمونه پيش کړي، په دم کولو کښې څه باك نشته تر څو چې په کښې شرك نه وي.

***

# التمائم (تعويذونه)

❋ د تمائم (تعويذونو) تعريف: تمائم په لغت کښې جمع د تميمة ده.

او په اصطلاح کښې: هغه شي ته ويل کيږي چې د ماشومانو يا د نورو په غاړه کښې زوړندولی شي د نظر دفعه کولو لپاره.

❋ د تمائم (تعويذونو) قسمونه:

تمائم (تعويذونه) په دوه قسمه دي:

١- هغه تعويذونه چې د قرآن او يا د پيغمبری دعاګانو څخه وي، نو صحيح دا ده چې دا منعه دي له دری وجو څخه:

أ- د تعويذونو څخه د عامي نهي (منعي) په وجه، او داسي يو څه وجود نلري چې دغه منعه خاص کړي.

ب-د تعويذ د بندش په وجه؛ ځکه ددی زوړندول د هغو تعويذونو زوړندولو ته لاره هواره وي چې هغه روا نه دي.

ج- ځکه چې کله ددی تعويذونو زوړندونکي قضاء حاجت ته ځي نو خامخا به ددی تعويذونو سپکاوي تري کيږي.

٢- هغه تعويذونه چې د قرآن او پيغمبری دعاګانو څخه علاوه د بل شي څخه وي.

لکه هغه تعویذونه چې د پیریانو او شیطانانو نومونه ورپکي طلاسم (نقش) وي چې معنی یې نه وي معلومه نو دا قسم تعویذونه په قطعي صورت حرام دي، او دا شرکي تعویذونه دي؛ ځکه پدي کښې په غیر الله پورې تعلق لرل دي.

❋ نو خلاصه دا شوه:

چې تعویذونه ټول حرام دي که هغه د قرآن څخه وي، یا د بل کوم شي څخه وي، او که د قرآن څخه په بل شي وي نو بیا دغه حرام او شرك دی.

او دلیل پرې د نبي ﷺ دا قول دی: "إن الرقى والتمائم والتولة شرك" [رواه أحمد وأبو داود].

ترجمه: بیشکه دم درهي او تعویذونه او کوډي جادو شرك دی.

❋❋❋

# التبرك (برکت حاصلول)

* د تبرك معنی: تبرك په لغت کښې ډېروالي او ثابتوالي د يو شي ته ويل کيږي.

او په شريعت کښې: د برکت او اميد طلب کولو، او د هغه د اميد ساتني او عقيدي لرلو ته وائي.

* د تبرك (برکت حاصلول) قسمونه:

د تبرك (برکت حاصلولو) دوه قسمونه دي:

١ - جائز تبرك (برکت حاصلول).

٢ - ممنوع تبرك (برکت حاصلول).

* **اول قسم:** جائز تبرك (برکت حاصلول):

١ - د نبي ﷺ په ذات باندي تبرك حاصلول، يا په هغه شي باندي چې د هغه د جسم (بدن) څخه جدا شوي وي.

او دا قسم تبرك د نبي ﷺ په ژوندانه پوري خاص دی فقط.

٢ - په هغه جائزو اقوالو (ويناگانو) او اعمالو (کارونو) باندي تبرك (برکت طلب کول) چې کله بنده هغه وکړي نو هغه ته خير او برکت حاصليږي.

لکه: د قرآن کریم لوستل، یا د الله تعالی ذکر کول، او یا د علم مجلسونو ته حاضریدل شو.

۳- په هغو ځایونو باندي تبرك (برکت حاصلول) چې په هغه ځایونو کښې الله تعالی برکت اچولي وي،لکه مساجد (جوماتونه) او د نورو ځایونو څخه مکه او مدینه او شام شو.

او پدی تبرك باندي مقصد: د نیکو اعمالو کول،او الله تعالی لره پکی هغه عبادتونه کول چې هغه جائز وي، او پدی تبرك باندي د دغو دیوالونه او ستنو مسحه کول (لاس ورسره لږول) مقصد نه دی.

۴- تبرك (برکت) طلب کول په هغو زمانو (وختونو) سره چې الله تعالی هغه په زیات فضل او برکت خاص کړی دی.

لکه د رمضان میاشت، او د ذوالحجة (د غټ اختر) د میاشتي لس (اوليني) ورځي، او ليلة القدر، او د شپی آخري دریمه حصه.

او پدی سره به تبرك (برکت حاصلول) پدغو وختونو کښې د خیر په کارونو کولو سره وي، او په جائز عبادتونو کولو سره الله تعالی لپاره.

۵- تبرك (برکت حاصلول) په هغو خوراکونو سره چې الله

تعالی په هغو کښې برکت اچولي دي.

لکه د زیتونو (خونانو) تیل، شهد، شوده، حبة السوداء (توره دانه) د زمزم اوبه [۱].

* **دوهم قسم:** تبرك (برکت طلب کول) چې هغه ممنوع دي:

۱- هغه ممنوع تبرك دي چې په ځایونو او بې روح شیانو باندي طلب کول کیږي، لکه: لاس لږول د هغو ځایونو په دیوالونو باندي چې په شریعت کښې د هغو ځایونو برکت ثابت وي، یا ددغو ځایونو کړکې او ستنې ښکلول، یا ددغو ځایونو خاوري دروغتیا لپاره استعمالول.

* د نیکانو خلکو په قبرونو او دربارونو باندي تبرك (برکت طلب کول).

* په هغو ځایونو تبرك (برکت طلب کول) چې د تاریخي واقعاتو سره تړاو لري، لکه د پیغمبر ﷺ د پیدائش ځای، یا غار حراء، یا غار ثور.

۲- ناجائز هغه ممنوع تبرك دی چې په زمانو (وختونو) باندي

---

(۱) یوه فائده: د زمزم د اوبو برکت د یو ځای څخه بل ځای ته په وړلو نه ختمیږي او دا صحیح خبره ده.

طلب كول كيږي:

* د ناروا كارونو او د ځان نه جوړ كړى شوي عبادتونو كول دي په هغو زمانو (وختونو) كښې چې په شريعت كښې د هغو بركت ثابت وي.

* په هغو زمانو (وختونو) تبرك طلب كول چې په شريعت كښې په دغو وختونو كښې تبرك نه وي ثابت، لكه د پيغمبر ﷺ د پيدائش په ورځ، د اسراء او معراج په شپه، اود شعبانِ د مياشتي په پنځلسمه شپه، او يا په هغو ورځو او شپو چې د تاريخي واقعاتو يادداشت سره تړلي وي.

٣- هغه ممنوع تبرك دى چې د نيك عملو خلكو په ذواتو باندي طلب كيږي، او يا د هغوي په پاتي شوو شيانو باندي.

* د انسانانو څخه د هيچا په ذات (بدن) تبرك طلب كول ندي جائز غير د نبي ﷺ د ذات (بدن)، او د هغه د آثارو څخه، خو دا هغه پوري خاص دي، او خاص د هغه په ژوند كښې فقط.

* د تبرك په بابله ځني مهم ضوابط او قواعد (قوانين):

١- تبرك (بركت طلب كول) عبادت دي، او اصل په عبادتونو كښې منعه والي دي تر هغي چې ددغه عبادت په جائزوالي يو

دليل راشي.

٢- برکتونه ټول يوائې د الله لطرف نه دي، او هغه د برکتونو مالك (اختيار مند) او د برکتونو ورکونکي دي، نو د بل چا څخه يې غوښتل ندي جائز.

٣- د کومو شيانو برکت چې ثابت دي نو په هغو شيانو باندي تبرك (برکت طلب کول) صرف په الله او رسول باندي إيمان لرونکي موحد ته فائده ورکوي.

٤- تبرك (برکت طلب کول) په هغو شيانو چې په شريعت کښې د دغو شيانو برکتي والي ثابت وي پکار ده چې په جائزو طريقو باندي وشي، او د ځان څخه پکي هغه هيئتونه او طريقي جوړي نه کړي شي کومي چې مخکنو سلفو (د دين مشرانو) ندي کړي.

***

# د اسبابو په بابله مهمي قاعدې

۱- د اسبابو استعمالونکي لره پکار دي چې اعتماد (بروسه) په الله تعالی باندي وکړي نه په سبب باندي؛ ځکه الله تعالی د اسبابو جوړونکي او پيداکونکي دی.

۲- د اسبابو استعمالونکي لره پدی پوهيدل پکار دي چې دا اسباب د الله تعالی په قضاء (فيصلي) او تقدير (اندازي) پوري تړل شوي.

۳- د يو شي د سبب ثابتولو دوه طريقي دي:

**اول:** په شريعت کښې د يو شي د سببوالي معلومول، مثال يې لکه: شهد سبب د شفاء (روغتيا) دی، دليل پری د الله تعالی دا قول دی: ﴿فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ [النحل: ٦٩].

ترجمه: پدی شهدو کښې دوائي ده لپاره د خلکو.

**دوهم:** د يو شي سببوالي د تجربي اوتقدير څخه معلومول. ددی مثال لکه: اور سبب د سوزولو دی.

خو لکن د تجربي څخه د يو شي د سبب ثابتولو لپاره ضروري ده چې دا سببوالي د هغه شي څخه سمدستي وروسته ښکاره

ثابتیږي؛ ځکه هغه ثابتوالي چې ښکاره نه وي کله هسي دعوی کول وي، او کله وهم کول وي، لکه دا خیال کول چې د کړی اچول نظر (سترګو لګیدل) دفعه کوي.

***

# توسل (وسيله نيول)

❋ د توسل تعريف:

توسل په لغت كښي د وسيلي څخه اخستل شوی، ا ودا هر هغه شي ته ويل كيږي چې په هغه سره يو شي ته رسيدل، او نزديكت كيدا ی شي.

او په اصطلاح كښې: دا د يو مشروع (روا) سبب استعمالول دي چې الله تعالى ته نزدي كول كوي.

❋ د توسل قسمونه :

د توسل دوه قسمونه دي:

۱) جائز توسل (وسيله نيول).

۲) ممنوع توسل (وسيله نيول).

❋ جائز توسل په دری قسمه دی:

۱- د الله تعالى د نومونو څخه په يو نوم، او يا د هغه د صفتونو څخه په يو صفت باندي توسل (وسيله نيول) كول.

۲- په نيك عمل باندي توسل (وسيله نيول) كول چې دعاء كونكي يې وكړي.

۳- د يو ژوندي نيك عمله سړي په دعاء توسل (وسيله نيول) کول.

❋ممنوع (ناجائز) توسل:

دا هر هغه توسل دی چې په جائز توسل کښې د ذکر شوو دری شيانو څخه علاوه په بل شي باندي وسيله نيول شوي وي.

له دغی د جملي څخه:

۱- الله تعالى ته توسل (وسيله نيول) دي د اشخاصو په حق يا جاه (مرتبه) باندي.

۲- د اولياؤ او صالحينو لپاره دعاء او منخته کول.

۳- د اولياؤ د روحونو لپاره ذبحه (حلالکه) کول، او د هغوي د قبرونو چاپيره کښيناستل.

❋❋❋

# د غير الله لپاره ذبحه (حلالکه) کول

❋ د ذبحي تعريف:

ذبحه (حلالکه) په لغت کښې شلولو ته وائي، يا هغه څه ته چې په دی دلالت کوي.

او په اصطلاح کښې: د روح (ساه) ويستل، او د ويني تويول دي، په يوي مخصوصه طريقه د تعظيم او نزديکت په خاطر.

❋ د حلالکي قسمونه:

د حلالکي دری قسمونه دي:

۱- هغه حلالکې چې شريعت مقرر کړي وي.

۲- مباح (روا) حلالکې.

۳- شرکي حلالکې.

❋ **اول:** په شريعت کښې مقرر کړی شوی حلالکې، لکه:

۱- د لوي اختر قرباني.

۲- الله تعالی لپاره د نذرونو (منختي) حلالکي.

۳- د حج د (هدي) قرباني حلالکه.

۴- په حج او عمره کښې د فدي حلالکه.

۵- د ماشوم د پیدایش څخه وروسته د عقیقي کولو حلالکه.

۶- د صدقي (خیرات) حلالکه چې الله ته پري ځان نزدي کولي شي.

۷- د میلمه د عزت کولو لپاره حلالکه.

❋ **دوهم قسم:** مباح (جائز) حلالکې، لکه:

۱- د غوښي خرڅولو لپاره دقصاب حلالکه.

۲- دغوښي خوړلو لپاره حلالکه کول.

❋ **دریم قسم:** شرکي حلالکې، لکه:

۱- د بوتانو لپاره حلالکه کول.

۲- د پیریانو لپاره حلالکه کول.

۳- د گمبتونو او دربارونو او قبرونو لپاره حلالکه کول.

۴- په نوي استوگن ځای کښې د اوسیدو څخه مخکي د پیریانو څخه د ځان ساتني (پناه) په خاطر حلالکه کول.

۵- د واده د ناوي او هلك كور ته د ننوتلو په وخت حلالکه کول او د ثاروي په وینه د دغو د واړو پیادل تلل.

٢- د الله تعالى لپاره حلالكه كول خو ليكن د غير الله نوم پري اخستل.

❋ خلاصه دا چې:

١- ذبحه (حلالكه) عبادت دی د الله تعالی، نو د بل چا لپاره يې كول ندي جائز.

او دليل پري د الله تعالى دا قول دی: ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ ﴾ [الأنعام: ١٦٢].

ترجمه: ووايه: يقيناً لمونځ زما او مالي عبادت زما، او ژوند او مرګ زما، خاص الله لره دي چې رب د مخلوقاتو دی.

٢- د غير الله لپاره ذبحه (حلالكه) كول غټ شرك ګڼل كيږي، او كونكي يې لعنتي دی.

اودليل پري د پيغمبر ﷺ دا قول دی: "لعن الله من ذبح لغير الله" [رواه مسلم].

ترجمه: الله تعالى لعنت كړی په هغه چا چې د الله تعالى څخه غير بل چا لپاره ذبحه (حلالكه) كوي.

❋❋❋

# النذر لغير الله (د الله تعالی څخه غير د بل چا لپاره منخته کول)

❋ د نذر تعريف: نذر په لغت کښې: لازمولو ته ويل کيږي.

او په شريعت کښې: لازمول د مکلف دي په خپل ځان باندي هغه اطاعت لره چې په هغه لازم نه وي، د هغه چا د تعظيم کولو په خاطر چې دا د هغه لپاره په ځان نذر (منخته) مني.

❋ نذر (منخته) د الله تعالی لپاره عبادت دی.

نو پدی ځان پوهه کړه چې هر کله عبادت دی؛ نو د الله تعالی نه غير بل چا لپاره نذر (منخته) کول ندي پکار، او چا چې د الله نه غير بل چا لپاره نذر (منخته) ومنلو نو دی لوي شرك وکړو، الله تعالی فرمائي: ﴿ يُوفُونَ بِالنَّذْرِ ﴾ [الإنسان: ٧].

ترجمه: دوي پوره والي کوي په خپلو منختو.

نو چا چې د غير الله لپاره منخته ومنله نو ده لره دغه نذر (منخته) پوره کول ندي جائز.

❋ نذر (منخته) کله شرك دی؟

کله چې انسان په خپل ځان باندي د غير الله لپاره د هغه د تعظيم کولو او هغه ته د ځان نزدي کولو په خاطر نذر (منخته) ومني، او ددی د جملي څخه د مثال په ډول دا هم دي:

١ - چې دا ووائي: که الله تعالی زما مریض (بیمار) ښه کړو نو فلاني ولي د قبر لپاره دومره ګډې یا بزې یا دومره مال شو.

٢ - چې دا ووائي: که زما بچي وشو نو د فلاني ولي لپاره به د هغه د قبر په خوا کښې زه ذبحه (حلالکه) کوم.

٣- چې دا ووائي: د فلاني ولي یا جني (پیري) په ما باندې نذر (منخته) ده چې درې ذبحې (حلالکې) به کوم.

۴- د بوتانو لپاره نذر (منخته) کول.

۵- د لمر یا سپوږمۍ لپاره نذر (منخته) کول.

❋❋❋

## الاستعانة (كومك غوښتل) الاستغاثة ( پرياد رسي طلب كول) الاستعاذة (پناه غوښتل):

**❋ ددى الفاظو معناګانې:**

الاستعانة: مدد غوښتلو ته وائي.

الاستغاثة: د سختى لري كولو لپاره كومك غوښتلو ته وائي.

الاستعاذة: د پناه غوښتلو ته وائي.

❋ دليل پدى چې دا دري واړه شيان عبادت ذي:

(أ) استعانة: دليل پرى د الله تعالى دا قول دى: ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝﴾ [الفاتحة: ٥].

ترجمه: خاص تالره بندګي كوو، اوخاص ستا څخه مدد غواړو.

(ب) الاستغاثة: دليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ﴾ [الأنفال: ٩].

ترجمه: كوم وخت چې تاسي پرياد كولو خپل رب ته پس قبوله كړه هغه دعاء ستاسي.

(ج) الاستعاذة: دليل پري د الله تعالى دا قول دى: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝﴾ [الناس: ١].

ترجمه: او ووايه: پناه غواړم د خلکو په رب باندي.

❋ دغيرالله څخه د استعانة (مدد غوښتلو) او استغاثه (پريا درسي طلب کول) او استعاذة (د پناه غوښتلو) حکم په دوه قسمه دی:

۱- جائز دی: کله چې ورپکي شرطونه موجود وي، چې هغه څلور شرطونه دي.

أ- دوه شرطونه د هغه شي سره تعلق لري په کوم شي سره چې استعانة او استغاثة او استعاذة طلب کولي شي، او هغه:

۱- دا چې دغه شي به د الله تعالی د خصوصيتونو څخه نه وي.

۲- دا چې مخلوق به په دغه شي باندي قادر وي.

ب- دوه شرطونه د هغه چا سره تعلق لري د چا څخه چې استعاذة پناه طلب کړي شوي وي، يا د هغه څخه استعانة او استغاثة طلب کړی شوي وي، او هغه دا چې:

۱- دغه به ژوندي وي.

۲- بل دا چې حاضر به وي.

۲- شرکي استعانة او استغاثة او استعاذة، او هغه دا چې د مخکنيو تيرو شوو شرطونو څخه پکي يو شرط کم وي.

❋❋❋

# الشفاعة (سفارش)

❋ د شفاعت تعريف:

شفاعت په لغت کښې مصدر دی د (شفع يشفع شفاعة) کله چې دوه شيان يو بل سره يوځائي کړي شي، او شفع (جفت) مقابل د وتر (تاق) دی.

او په اصطلاح کښې: د بل چا لپاره واسطه کول د هغه د فائدي لپاره، او يا د هغه څخه د ضرر دفعه کولو لپاره.

❋ د شفاعت (سفارش) قسمونه:

١- نفي کړی شوي شفاعت (سفارش).

٢- ثابت کړی شوي شفاعت (سفارش).

❋ نفي کړی شوي شفاعت (سفارش):

أ- د نفي کړی شوي شفاعت (سفارش) تعريف: دا هغه شفاعت (سفارش) دی چې الله تعالى نه غير د بل چا څخه غوښتلي شي، په هغه شي کښې چې د الله تعالى څخه غير پري بل څوك قادر نه وي.

ب- ددی شفاعت (سفارش) دليل د الله تعالى دا قول دی:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا

﴿شَفَٰعَةٌۗ وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝٢٥٤﴾ [البقرة: ٢٥٤].

ترجمه: اى إيمان والو صدقه وركوئ د هغه څه نه چې در كړى مونږ تاسي ته مخكې له دى څخه چې راشي ورځ د قيامت نه به وي خرڅول په هغي كښې، او نه دوستانه، او نه به سفارش وي (كافرانو لره) او كافران چې دي همدوي ډير زيات ظالمان دي.

* ثابت كړى شوي شفاعت (سفارش):

أ- د ثابت كړى شوي شفاعت (سفارش) تعريف: دا هغه شفاعت دى چې د الله تعالى څخه غوښتلي شي.

ب- ددى شفاعت شرطونه:

١- د الله له طرف نه شفاعت كونكي (سفارشي) ته د سفارش كولو اجازت كول.

٢- د الله تعالى راضي كيدل د شفاعت كونكي (سفارشي) او د هغه چا څخه چې هغه لره سفارش غوښتى شي.

ج- ددى شفاعت (سفارش) دليل د الله تعالى دا قول دى: ﴿مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦ﴾ [البقرة: ٢٥٥].

ترجمه: څوك دى چې شفاعت (سفارش) وكړي د الله په نزد،

مګر د هغه په اجازت.

او د الله تعالى دا قـول: ﴿ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغْنِى شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعْدِ أَن يَأْذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرْضَىٰٓ ﴿٢٦﴾ ﴾ [النجم: ٢٦].

ترجمـه: او ډيـر ملائـك شـته پـه اسـمانونو كښـې چې فائـده نشـي وركـولي سـفارش ددوي هـيڅ فائـده مګـر وروسـتو لـه دينـه چې اجازت وكړي الله تعالى هغه چا ته چې خوښ او رضاء يې شي.

❋ په شفاعت باندي د ژوندي قدرت لرونكي شخـه د شفاعت (سفارش) غوښتلو حكم:

١- كـه د ژونـدي شخـه د يـو جـائز او مبـاح كـار پـه بـاره كښـې شفاعت وغوښتل شي چې هغه پـري قـادر وي؛ نـو دا جـائز دى، او دا د يـو بـل سـره د كومـك او د خيـر پـه كـار كښـې د مـدد كولـو د جملي شخه دى.

٢- او كه د هغه شخـه د هغـه كـار طلب كـوي چې د الله تعـالى شخه غير پري بل څوك قدرت نه لري نو دا قسم شفاعت (سـفارش) شرك دى.

❋ ❋ ❋

# د قبرونو زيارت كول

د قبرونو زيارت كول په درى قسمه دى:

۱ - روا او جائز زيارت.

ا ودا د قبرونو زيارت كول دي.

أ- د آخرت رايادلو په خاطر.

ب- په قبرونو والو باندي د سلام كولو لپاره د قبرونو زيارت كول.

ج- د قبرونو والو لپاره د دعاء غوښتلو په خاطر د قبرونو زيارت كول.

۲ - بدعي زيارت يعني چې په شرعي طريقه نه وي، ا ودا قسم زيارت د توحيد د كمال سره منافي دى، او د شرك د وسيلو څخه يوه وسيله ده، او ددى د جملي څخه:

أ- د قبرونو خوا ته د الله تعالى د عبادت قصد كول.

ب- په قبرونو باندي د تبرك (بركت حاصلولو) لپاره د قبرونو زيارت كول.

ج- د قبرونو خواته د ثوابونو چاته اهداء (بښل) كول.

د- قبرونو ته د لري نه د سفر كولو تيارى كول.

او دارنګه نور.

۳- شركي زيارت: چې د توحيد (عقيدي) سره منافي وي، اودا د قبر واله لپاره د عبادت د قسمونو څخه يو قسم عبادت كول دي، لكه:

أ- د الله تعالى څخه بغير د قبر واله څخه د دعاء غوښتنه كول.

ب- د قبر واله څخه د استعانت (مدد) او كومك غوښتنه كول.

ج- د قبر واله لپاره ذبحه (حلالكه) او نذر (منخته) كول.

او دارنګه نور كارونه.

* * *

# سحر (جادو)

## ❋ د سحر (جادو) تعريف:

سحر په لغت کښې هغه شي دی چې سبب يې باريك او پټ وي.

او په اصطلاح کښې: دمونه او درهي او تعويذونه يا دوايانی دی چې په زړه او بدن باندي د الله په حکم تأثير کوي.

## ❋ د سحر (جادو) قسمونه :

د سحر (جادو) دوه قسمونه دي:

۱- لوي شرك دی:

ا ودا هغه جادو دی چې د پيريانو او شيطانانو په واسطه وي، چې د هغوي عبادت کوي، او هغوي ته ځان نږدي کوي، او هغوي ته سجدی کوي، ددی لپاره چې په جادو کړی شوي انسان باندي يې مسلط کړي.

۲- فسق (ګناه) او عدوان (تجاوز) دی:

ا ودا هغه جادو دی چې د دوايانو اودارو درملواو يا د نورو شيانو په واسطه وي، اوددی قسم څخه د لاسو صفائي او چشم

بندي ده.

❋ د سحر (جادو) حکم:

أ- که د جادوګر دا جادو د اولني قسم له جملې څخه وي، نو دا جادوګر کافر دی، او د مرتد پشان به وژلي شي.

ب- که چيري د جادوګر جادو د دوهم قسم د جملې څخه وي، نو کافر ندی خو ليکن فاسق او نافرمان دی، او وژل کيږي به د ځان څخه د يو زياتي کونکي دفعه کولو پشان، کله که د مسلمانانو مشر (مسؤول) دا مناسب وګني.

❋ دليل پر دی چې سحر (جادو) کفر دی، د الله تعالى دا قول دی: ﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾ [البقرة: ۱۰۲].

ترجمه: او ښودنه به نه کوله ددی دواړو هيچا ته تر دی چې دوي به وويل: بيشکه مونږ امتحان يو نو کفر مه کوه (په سحر کولو) سره.

نو څوك چې سحر کوي يا يې زده کوي او يا سحر خوښ ګڼي نو دا کافر دی، او د إسلام څخه ووتلو.

❋ د نُشري (د جادو کړی شوي څخه جادو لري کولو) حکم:

نشرة: د جادو کړی شوي څخه جادو لري کولو ته وائي.

او دا په دوه قسمه ده:

أ- د جادو کړي شوي څخه جادو لري کول په سحر (جادو) سره او دا حرام او شيطاني عمل دی.

ب- د جادو لري کول په دم يا په شرعي تعوذاتو (هغه دعاګاني چې په الله تعالى باندی پکي پناه غوښتل وي)، او يا په جائزو دوايانو، او دا جائز دی، څه نقصان پکی نشته.

❋ د ساحرانو (جادوګرانو) په بابله معلومات ورکول او د هغوي څخه ځان او نور بچ ساتل:

د جادوګرو په باره کښې خبر ورکول، او د هغوي څخه د خلکو بچ ساتل لازم دي؛ ځکه دا د منکر (بد کار) انکار دی، او د مسلمانانو لپاره خير خواهي لټول دي.

❋ هغه علامې (نښې) چې جادوګر پري پيژندلی شي:

کله چې په علاج کونکي کښې يوه علامه ددغو علامو څخه ومونده شوه، نو بغير د کوم شك شبهې جادوګر دی:

١- د مريض څخه د هغه د نوم او د هغه د مور د نوم پوښتنه کوي.

۲- د مـريض د اسـتعمال كـړي شـوي شـيانو څخـه يـو راخلـي (جامي، د سر څپوټي ، كميس، څادري).

۳- د طلاسمو (نقشو) ليكل.

۴- د منترو او منګړت شيانو لوستل.

۵- كله تري يو خاص صفت لرونكي حيوان (څاروي) غواړي چې ذبحه (حلال) يې كړي، او د الله تعالى نوم پري ياد نكړي، او كله ددغه حيوان په وينه د مريض دردمند ځايونه ككړوي، او يا يې په شړ ځاى كښې غورځوي.

۶- مريض ته حجاب (تعويذ) وركوي چې په څلور ګوټو نقشو مشتمل وي چې دننه پكي حرفونه (ټكي) او يا شميري عددونه وي.

۷- د ځان سره بونګيږي په خبرو يې څوك نه پوهيږي.

۸- مريض ته پاڼې وركوي چې ويې سوزوي او هغه ځان ته لوګي كړي.

۹- مريض ته څه شيان وركوي چې په ځمكه كښې خخ كړي.

***

# كهانت او عرافت

❋ د كاهن تعريف: كاهن: هغه څوك دى چې په مستقبل (راتلونكي) كښې د كيدونكو شيانو په باره كښې د پيريانو او شيطانانو د لاري خبر وركوي.

❋ د عراف تعريف: دا هغه څوك دى چې موجوده كارونو د پيژندنى دعوى كوي، لكه د غلا شوي يا د ورك شوي شي په باره كښې په پټو طريقو خبر وركوي.

❋ د علم غيب دعوى كول:

د علم غيب دعوى كول كفر دى؛ ځكه دا د قرآن كريم دروغژن ګڼل دي، الله تعالى فرمائي: ﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ﴾ [النمل: ٦٥].

ترجمه: ورته ووايه: په غيبو نه پوهيږي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكو كښې دي، مګر يواځې الله تعالى.

❋ د غيبو خبر وركونكو قسمونه:

١ - هغه څوك چې د غيبو خبر وركوي د پيريانو له لاري هغه ته كاهن وَيل كيږي.

۲- هغه څوك چې د غيبو خبر وركوي په ځمكه باندي د خطونو راښلكو په واسطه، هغه ته رمال ويل كيږي.

۳- هغه څوك چې د غيبو خبر وركوي د ستورو له لاري نو هغه ته منجم وائي.

۴- هغه څوك چې د غلا شوي يا ورك شوي شي په باره كې په پټو طريقو خبر وركوي نو هغه ته عراف ويل كيږي.

❋ كاهنانو (ترويتيانو) او عرافينو (پالګرو) او جادو ګرو ته د ورتللو حكم.

دغو ته ورتلل په دوه قسمه دي:

۱- هغه څوك چې دوي ته ورځي او پوښتنه تري كوي بغير د تصديق (باور كولو) څخه په دوي باندي؛ نو ددی حكم دا دی چې دا حرام كاراولويه ګناه ده، او دده لمونځ څلويښت ورځي نه قبليږي.

دليل پري د پيغمبر ﷺ دا قول دی: "من أتى عرّافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين يوماً" [رواه مسلم].

ترجمه: څوك چې ترويتي ته راغی او د هغه څخه يې د يو شي په باره كښې پوښتنه وكړه، نو څلويښت ورځي به دده لمونځ قبول نشي.

او ددی څخه مراد دا دی چې دده لپاره دده په لمانځه اجر او ثواب نشته.

٢- څوك چې دوي ته ورشي، او ددوي څخه پوښتنه وکړئ او ددوي تصديق وكړي؛ نو د هغه حكم دادی چې په محمد ﷺ باندي په نازل شوي وحي باندي كافر شو.

دليل پري د نبي ﷺ دا قول دی: "من أتى عرافاً أو كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد" [رواه الأربعة والحاكم].

ترجمه: څوك چې ترويتي يا پالګر ته ورشي، اوپه هغه څه تصديق (باور) وکړي کوم څه چې هغه وائي، نو يقيناً دی کفر وكړو په هغه څه چې په محمد ﷺ باندي نازل شوي.

❋❋❋

# الطيرة (بدپالي نيول)

**❋د الطيرة (بدپالی) تعريف:**

طيرة (بد پالی) په لغت کښې د تطير څخه اخستل شوي، اودا تفاؤل (نيك پالي) نيول دي يا تشاؤم (بدپالي) نيول دي د يو شي څخه.

په اصطلاح کښې: دا بدپالي نيول دي چې د يو ليدل شوي، يا اوريدل شوي، يا يو معلوم شوي شي څخه په نتيجه کښې راپيدا کيږي.

**❋ د تطير (بدپالي) نيولو حکم:**

تطير (بدپالي) نيول توحيد سره منافي دی، اودا د دوه وجو څخه:

١ - ځکه چې د بدپالی نيونکي توکل (اعتماد) په الله تعالی باندي قطع شوی، او په غير الله باندي اعتماد جوړ کړی.

٢ - ځکه چې ده په هغه څه پوري تعلق تړلی چې د هغه کوم حقيقت نشته، بلکي وهمي او خيالي شی دی.

❋ د تطير (بدپالي) نيولو څخه د منع والي دليل دالله تعالی داقول دی: ﴿ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ ﴾ [الأعراف:

[۱۳۱].

ترجمه: خبردار يقيناً سپيره والى ددوي مقرر ؤ د الله تعالى څخه ليکن ډير ددوي څخه نه پوهيږي.

او د نبي ﷺدا قول دى: "لا عدوى، ولا طيرة، ولا هامة، ولا صفر" [متفق عليه].

ترجمه: مريضتيا ديونه بل ته لګيدل نشته، او نه بدپالي نيول شته، اونه دمړي روح حاضريدل شته دهغه دکورد پاسه، اونه صفره مرض يو بل ته لګيدل شته.

او دنبي ﷺ دا قول دى: "الطيرة شرك" [رواه أبو داود والترمذي].

ترجمه: بدپالي نيول شرك دى.

* د بدپالي نيونكي حالتونه:

ددوو حالاتونو څخه خالي ندى.

**اول:** دا چې د كار څخه ځان بند كړي، او ددى بدپالي تابع شي، او خپل كار پريږدي، نو دا لويه بدپالي نيول دي.

**دوهم:** دا چې په خپل كار كښې دوامداره پاتي شي، خو ګډوډ او په سوچ فكر او غم كښې وي، او په كوم شي چې دى

بدپالي نيولي د هغه د تأثير كولو څخه په ويره كښې وي، نو دا هم تشاؤم (بدپالي نيول) دي خو د اولني قسم څخه لږ كم دى.

او دواړه قسمونه د توحيد نقصان او د بنده لپاره ضرر دى.

❋ د چا په زړه كښې چې بدپالي راشي د هغى علاج دا دى چې دا (دعاء) ووائي: "اللهم لا يأتي بالحسنات إلا أنت، ولا يدفع السيئات إلا أنت، ولا حول ولا قوة إلا بك" [رواه أبو داود].

ترجمه: اي الله ښه حالتونه نه راولي مګر ته، او بد حالتونه نه دفع كوي مګر ته، او نشته اړول د بدى څخه او قوت د نيكي وركولو مګر تا لره دي.

او دارنګه دا ويل: "اللهم لا طير إلا طيرك، ولا خير إلا خيرك، ولا إله غيرك" [رواه أحمد وصححه الألباني].

ترجمه: اى الله نشته بدپالي مګر ستا په اختيار كښې ده، او نشته خير مګر ستا خير، او نشته ستا نه غير بل معبود.

او بيا ورلره پكار دي چې:

١- د بدپالى ضرر وپيژني.

٢- د خپل ځان سره مجاهده (مقابله) وكړي.

٣- د الله په قضاء او تقدير إيمان ولري.

۴- په الله تعالی دی ګمان ښه کړي.

۵- استخاره دی وکړي.

❋ د ناروا بدپالي پيژندنه:

پيغمبر ﷺ فرمائي: "إنما الطيرة: ما أمضاك أو ردّك" [رواه أحمد].

ترجمه: بيشکه بدپالي هغه شی دی چې تا لره مخ په وړاندي روان کړي، او يا تا لره واپس کړي.

❋ نيك پالي معنی:

دا يوه ښه خبره ده چې انسان يې واوري، او په هغي باندي خوشحاله شي، ددی مثال داسي دی چې: يو سړی د سفر اراده لري نو د يو چا څخه واوري: يا سالم (ای روغه) نو پدغه خبره دا خوشحاله شي.

ددی حکم دا دی چې دا جائز دی. دليل پري د پيغمبر ﷺ دا قول دی: "ويعجبني الفأل" [متفق عليه].

ترجمه: او خوشحالوي ما لره نيك پالي نيول.

❋ د طيرة (بد پالی) نيولو او فأل (نيك پالی) نيولو تر منځه فرق:

طيرة (بدپالی نيول) په الله تعالی باندي بدګماني ده، او د الله تعالی د حقوقو څخه بل چا ته د هغه حق ورکول دي، او په هغه مخلوق پوري تعلق جوړول دي چې هغه نه فائده رسولي شي، او نه ضرر.

او فأل (نيك پالي) په الله تعالی باندي ښه ګمان کول دي، چې د حاجتونو څخه ځوك نشي بندولي.

❋❋❋

# تنجيم (د ستورو علم زده کول، او یا د ستورو د تأثیر کولو عقیده لرل)

❋ د تنجیم تعریف:

تنجیم په لغت کښې د نجّم مصدر دی یعنې علم نجوم یې زده کړو، او یا یې د نجومو (ستورو) د تأثیر کولو عقیده ولرله.

په اصطلاح کښې: لار ښودنه حاصلول دي په نجومو (ستورو) سره په خاصو شیانو باندې.

❋ علم نجوم په دوه قسمه دی:

١ - علم الأحكام والتأثير.

٢ - علم الأسباب والتسيير.

❋ علم الأحكام والتأثير په درې قسمه دی:

١ - ددې عقیده لرل چې ستورې کارکونکې او تأثیر کونکې دي (یعنې حادثې او شرونه) ستورې پیدا کوي. نو دا لوی شرك دی.

٢ - دا ستورې د علم غیب دعوی کولو لپاره سبب گرځول؛ نو دا لوی کفر دی.

۳- دا عقیده لرل چې د خیر او شر لپاره ستوري سبب دی، او الله تعالی یې کونکي (فاعل) دی.

نو دا بیا حرام او وړوکي شرك دی.

* علم الأسباب والتسییر په دوه قسمه دی:

۱- د ستورو په مزل باندي په دیني مصالحو کښې رهنمائي او لاربنودنه حاصلول؛ نو دا مطلوب دی.

ددی مثال لکه: د قبلي پیژندلو لپاره په ستورو رهنمائي او لاربنودنه حاصلول شو.

۲- په ستورو باندي په دنیوي مصالحو (فائدو) کښې رهنمائي او لاربنودنه حاصلول.

او دا په دوه قسمه دی:

أ- د طرفونو په معلومولو کښې په ستورو رهنمائي او لاربنودنه حاصلول، نو دا جائز دی.

ب- د موسمونو په معلومولو کښې په ستورو رهنمائي او لاربنودنه حاصلول، نو صحیح خبره دا ده چې دا مکروه ندی.

❋ فائده: د ستورو د پیدائش فائدي او حکمتونه دري دي:

۱- د اسمان ډول (ښائست) دی.

۲- د شیطانانو د ویشتلو لپاره دي.

۳- د لارو معلوملو لپاره نښې او علامې دي.

❋❋❋

## الاستسقاء بالأنواء (د باران نسبت ستورو ته كول)

❋ ددی څخه مراد:

استسقاء: يعني د اوبو طلب كول.

الأنواء: جمع ده مفرد يې نوء دی، او نوء د ستورو منزلونو ته وائي، او هغه اته ويشت ٢٨ منزلونه دي.

او مراد په الاستسقاء بالأنواء: د باران نسبت ستورو ته كول دي.

❋ د استسقاء بالأنواء قسمونه دري دي:

١- لوي شرك دی، او ددی دوه صورتونه دي:

أ- چې د ستورو څخه دعاء وغواړي چې په ده باران وكړي، لكه چې داسي ووائي: ای فلاني ستوری مونږ خړوب كړي، او په مونږ باران وكړی... او دارنګه ددی پشان نور.

ب- چې د باران كيدلو نسبت دی ستورو ته وكړي په دی معنی چې دا پخپله باران ورونكي دي د الله تعالی څخه علاوه، اګر كه د ستورو څخه دعاء نه غواړي.

٢- وړوكي شرك دی،اوهغه دا چې دا ستوري سبب وګرځوي.

٣- جائز دی، او هغه دا چې دا ستوري د علامو او دليلونو د جملي څخه وګرځوي او نه د اسبابو اود مستقل تأثير كونكو

شيانو د جملي څخه.

❋ ستورو ته د باران نسبت کولو په حرام والي باندي دليل:

د الله تعالی دا قول دی: ﴿ وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ۝٨٢ ﴾ [الواقعة: ٨٢].

ترجمه: او ګرځوي برخه ستاسو دا خبره چې دروغژن يې ګڼړي.

امام مجاهد وائي: يعني ددوي دا وينا د ستورو په باره کښې چې په مونږ د فلاني ستوري په وجه باران وکړی شو او د فلاني.

او د نبي ﷺ دا قول دی: "هل تدرون ماذا قال ربكم؟" آيا تاسي پوهيږی چې ستاسي رب څه ويلي، نو هغوي وويل: الله او رسول ښه پوهيږي، هغه وويل: "أصبح من عبادي مؤمن بي وكافر، فأما من قال: مطرنا بفضل الله ورحمته، فذلك مؤن بي وكافر بالكواكب، وأما من قال: مطرنا بنوء كذا وكذا فذلك كافر بي مؤمن بالكواكب" [متفق عليه].

ترجمه: صبا کړو زما د بندګانو څخه إيمان لرونکي په ما باندي، او کفر کونکي په ما؛ نو هغه چا چې ويلي: چې په مونږ باندي د الله تعالی په فضل او رحمت باندي باران وشو، نو دا مؤمن دی په ما باندي او کفر کونکي دی په ستورو باندي، او هغه چا چې دا ويلي: چې په مونږ د فلاني ستوري په وجه باران وشو نو دا کفر کونکی دی په ما باندي، او

إيمان لرونكي دى په ستورو باندي.

***

# رياء (ځان ښودنه)

❋ د رياء تعريف: رياء په لغت کښې د يو شى بل چا ته ښکاره کول چې هغه يې ووينې.

او په شريعت کښې: د نيك عمل ښکاره کول دي بل چا ته چې خلك يې ووينې ددى لپاره چې دده صفت وکړي.

❋ د رياء (ځان ښودني) حکم:

أ- لږه رياء وړوکي شرك دى.

ب- چې ټول او يا زيات عملونه يې د رياء کاري په وجه وي نو لوي شرك دى، اود مؤمن څخه دا نه صادريږي، بلکي دا دمنافقانو نښه ده.

❋ د رياء (ځان ښودني) خطر:

١- دا وړوکي شرك دى: نبي ﷺ فرمايلي: "أخوف ما أخاف عليكم الشرك الأصغر" فسئل عنه فقال: "الرياء" [رواه أحمد].

ترجمه: بيشکه هغه شى چې زه په تاسي باندي د هغه څخه ډير ويريږم هغه وړوکي شرك دى، نو د هغه څخه پوښتنه وکړى شوه چې دا څه شى دى، نو هغه وفرمايل: "الرياء" ځان ښودنه ده.

۲- دا نه ښښلي کيږي تر څو چې ترې کونکي توبه ونه باسي؛ ځکه چې الله تعالی فرمائي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾[النساء: ٤٨].

ترجمه: بيشکه الله تعالی نه ښښي دا چې څوك شرك وکړي د هغه سره او ښښې هغه ګناهونه چې ښکته دي د شرك څخه چا لره چې وغواړي.

او دا (آيت) وړوکي او غټ شرك دواړو ته شامل دی.

۳- دا هغه عمل بربادوي چې د کوم عمل سره ګډه شي.

نبي ﷺ فرمايلي دي: "قال الله تعالى: أنا أغنى الشركاء عن الشرك، من عمل عملاً أشرك معي فيه غيري تركته وشركه" [رواه مسلم].

ترجمه: الله تعالی فرمائي: زه بي پرواه يم د حصه داري څخه، نو څوك چې يو عمل وکړي او زما سره وريکي بل څوك شريك جوړ کړي نو زه هغه او د هغه شرك پريږدم.

۴- دا رياء د دجال د فتني څخه هم غټه ده.

نبي ﷺ فرمائي: "ألا أخبركم بما هو أخوف عليكم عندي من المسيح الدجال؟" آيا زه تاسي ته خبر نه درکوم په هغه شي چې هغه زما په نزد په تاسي باندي د مسيح الدجال د فتني څخه هم ډير د

ويري واله دی، هغوي ورته وفرمايل هو مونږ ته ددغه شي په باره کښې خبر راکړه، هغه ورته وفرمايل: "الشرك الخفي، يقوم الرجل فيصلي فيزين صلاته لما يرى من نظر الرجل" [رواه أحمد].

ترجمه: هغه پټ شرك دی، يو سړی به ودريږي نو لمونځ به کوي؛ نوخائسته به يې کوي له دی وجې نه چې دا بل سړی ووينې چې ديته ګوري.

❋❋❋

## کله چې يو عمل سره رياء کاري يو ځای شي

❋ نو دري حالتونه يې دي:

**اولنی حالت:** دا چې د اصل نه وربانديي په عمل کولو خلکو ته ځان ښودنه باعث وي؛ نو دا شرك دی او عمل يې باطل دی.

**دوهم حالت:** چې ددی نیت د الله لپاره وي خو په مینځ کښې ریا کاري راشي نو ددی لپاره دوه حالتونه دي:

١- چې د خپل ځان سره مجاهده (مقابله) وکړي، او رياء کاری پسی لاړ نشي، او نه د هغي څه خيال وساتي؛ نو دا رياء کاري بيا پر ده څه اثر نه کوي.

٢- چې په رياء کاری مطمئن شي، او ورپسي ولاړ شي، او دفعه يې نه کړي.

نو دلته د عبادت حکم:

أ- کله چې د عبادت آخر په اول د عبادت نه وي بناء، نو اولني (عبادت) صحيح دی، اوپه کوم کښې چې رياء کاري راغلي نو هغه باطل دی.

مثال يې لکه: يو سړي سل ١٠٠ ريالونه خيراتي په اخلاص ورکړي، او بيا يې يو سړی وليدلو نو هغه ته د

ځان ښودني په وجه يې سل ١٠٠ ريالونه نور خيراتي ورکړل، نو اولني ځل باندي ورکړی صدقه يې صحيح ده، او دوهم ځل باندي ورکړی صدقه يې باطله ده.

ب- که آخرني حصه د عبادت يې په اولني بناء وي، نو بيا يې ټول عبادت باطل وي.

مثال يې لکه: يو سړی ودريږي چې دوه رکعتونه لمونځ کوي د الله تعالی لپاره نو په دوهم رکعت کښې ورته رياء کاري راغله، او دفعه يې نکړه بلکي په رياء پسي روان شو، نو پدی حالت کښې ټول لمونځ باطل (برباد) شو.

**دريم حالت:** هغه رياء کاري چې د عبادت د ختميدلو څخه وروسته راشي؛ نو هيڅ قسم اثر ورباندي نه کوي.

**يوه مسأله:** چا چې د خلکو څخه خپل صفت واوريدلو، او پدی باندي دا خوشحاله شو نو؛ په ده باندي پدي کښې څه نشته بلکي: "تلك عاجل بشرى المؤمن" [رواه مسلم].

ترجمه: دا د مؤمن عاجله ددنيا خوشخبري ده.

**يوه مسأله:** څوك چې د خلکو له وجي يو عمل پريږدي، نو دا پريښودل د عمل د خلکو له وجي رياء کاري ده.

❋ د رياء او سمعت په منځ کښې فرق:

**رياء:** د سترګو سره تعلق لري (يعني عمل ددی وجي کوي چې خلك دا ويني او ددی صفت وکړي).

**او سمعت:** د غوږونو د اوريدلو سره تعلق لري: (يعني يو عمل کوي ددی لپاره چې خلك دغه واوري او ددی صفت وکړي).

❋ د رياء کاري علاج:

١- د اخلاص فضيلت رايادول.

٢- د رياء کارى خطرى رايادول، او دا چې عمل باطل (برباد) وي.

٣- د آخرت رايادول.

۴- پدی ځان پوهول چې خلك نه چاته فائده رسولي شي اونه ضرر.

۵- دعاء کول او ددغه له جملې څخه دا دعاء ده: "اللهم إني أعوذ بك أن أشرك بك شيئاً وأنا أعلم وأستغفرك لما لا أعلم".

ترجمه: ای الله زه په تاباندي پناه غواړم ددی څخه چې زه ستا سره څه شی شريك كړم، اوزه په هغي پوهيږم، او ستا څخه بښنه غواړم د هغه څه چې زه پري نه پوهيږم.

**کله چې يو عمل سره رياء کاري يوځای شی**

د اصل نه وربان‌دي خلکو ته ځان ښودنه باعث وي
↓
شرك دی او عبادت يې باطل دی

نيت يې د الله لپاره وي خو په مينځ کښې رياء راشي
↓

چې د ځان سره مجاهده (مقابله) وکړي او رياء پسي نه روانيږي
↓
نو دا په عمل تأثير نکوي

چې په رياء کاري باندي مطمئن شي، او ورپسي روان شي، او نه يې دفعه کوي
↓

نو کله چې د عبادت اخري په اول باندي نه وي بناء
↓
نو اول صحيح دی او په کوم کښې چې رياء راغلي وي هغه باطل دی

کله چې د عبادت اخيري برخه په اولني برخه باندي بناء وي
↓
نو ټول عبات بربادېږي

چې د عبادت د ختميدلو څخه وروسته رياء کاري راشي
↓
هيڅ تأثير پري نه کوي

## په عبادت كولو باندي د دنيا اراده كول

❋ددى څخه مراد دا دى: چې انسان يو خالص عبادت وكړي پدى نيت چې يو دنيوي مصلحت (فائده) ورته نيغ په نيغه حاصله شي.

❋ ددى مثالونه:

١- لكه يو سړى حج كوي ددى لپاره چې مال واخلي.

٢- يو سړى غزا (جهاد) كوي ددى لپاره چې غنيمت واخلي.

٣- يو څوك ددى لپاره أذان كوي چې تنخوا پري واخلي.

۴- يو څوك شرعي علم ددى لپاره كوي چې شهادتنامه (سند) او وظيفه پري واخلي او بس.

❋ ددى حكم په دوه قسمه دى:

أ- چې دده ډير عملونه يا ټول عملونه دنيا حاصلولو لپاره وي، نو دا لوي شرك دى.

ب- چې يو معين (خاص) عمل وكړي د دنيا حاصلولو لپاره، نو دا وړوكي شرك دى چې عمل بربادوي.

❋ انسان لره په خپلو عملونو باندي د دنيا اراده كولو څخه ځان ساتنه پكار ده: الله تعالى فرمائي: ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا

وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾﴾ [هود: ١٥ - ١٦].

ترجمه: هغه څوك چې غواړي په خپل عمل سره ژوند د دنيا، او ښائست د هغې؛ نو پوره به ورکړو دوي ته بدله د عملونو ددوي په دنيا كښې، او ددوي نه به په هغې كښې څه كمي نشي كيداى، دا هغه كسان دي چې نشته دوي لره په آخرت كښې مگر اور (جهنم)، او برباد به شي هغه نيك عملونه چې دوي كړي دي په دنيا كښې، او بې فائدي دي هغه كارونه چې دوي يې كوي.

او پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: "من تعلم علماً مما يبتغى به وجه الله لا يتعلمه إلا ليصيب به عرضاً من الدنيا لم يجد عرف الجنة" يعني ريحها. [رواه أحمد وأبو داود].

ترجمه: څوك چې هغه علم چې د الله مخ (رضاء) په هغه سره طلب كولى شي زده كوي ددى لپاره چې د دنيا ساز او سامان ورته حاصل شي نو د جنت خوشبوي به بيا نه مومي.

***

## د الله تعالى څخه غير په بل چا باندي قسم کول

❋ د حلف تعريف:

حلف په لغت کښې په معنى د لازموالي باندي راځي.

او په اصطلاح کښې: د يو حکم مضبوط والى دى د يو عظيم شي په ذکر کولو د قسم د حروفو څخه په يو حرف باندي.

او د قسم حروف هغه (واو، با، او تا) دي.

❋ د حلف نور نومونه: په يمين او قسم نومولي شي.

١- يمين.

٢- قسم.

❋ جائز قسم: هغه دى چې د الله په لفظ وي، لکه: "والله، بالله، تالله". او يا د الله تعالى د نومونو څخه په يو نوم باندي وي، لکه: "والرحمن، والعظيم، والسميع".

او يا د الله تعالى د صفتونو څخه په يو صفت باندي وي، لکه: "بعزة الله، ورحمة الله، وعلم الله".

❋ د الله تعالى څخه غير په بل چا باندي د قسم کولو حکم په دوه قسمه دى:

أ- کله چې د هغه تعظيم د عبادت درجي ته رسوي، لکه: د

هغه داسي تعظيم کوي لکه د الله د تعظيم پشان، يا ددی څخه هم زيات، نو دا لوي شرك دی.

ب- که د هغه تعظيم کوي خو ليکن دغه تعظيم د الله تعالی د تعظيم سره دبرابروالي درجي ته نه رسيږي، نو داوړوکي شرك دی.

❋ د الله تعالی څخه علاوه په بل شي باندي د قسم کولو د حکم دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: "من حلف بغير الله فقد كفر أو أشرك" [رواه أحمد وأبو داود].

ترجمه: څوك چې د الله تعالی څخه غير په بل شي باندي قسم وکړي نو يقيناً دی کفر يا شرك وکړو.

❋ په غير الله باندي د قسم کولو مثالونه:

١) په اولياؤ (نيکانو خلکو) قسم کول.

٢) د نبي ﷺ په جاه (مرتبه) او يا د اولياؤ په جاه (مرتبه) باندي قسم کول.

٣) د چا په ژوند باندي قسم کول.

٤) په امانت يا شرف (عزت) باندي قسم کول.

❋ د قسم د احکامو فائدمند لنډيز (اختصار):

١- دالله څخه بغيرپه بل شي قسم کول حرام دي اوداشرك دی.

٢- په الله تعالی باندي په دروغو قسم حرام دی، او ديته غموس وائي.

٣- بي له ضرورت څخه د الله په نوم باندي ډير قسمونه کول - اګر که رشتيا وي - حرام کار دی؛ ځکه په دي کښې د الله تعالی سپکاوي دی.

۴- د الله تعالی په نوم باندي د حاجت په وخت کښې په رشتيا قسم کول جائز دي.

❋ څوك چې دالله څخه بغير په بل چا قسم وکړي د هغی کفاره دا ده چې دا ووائي: (لا إله إلا الله) (نشته لائق د عبادت غير د الله تعالی نه بل هيڅوك) پدی باندي دليل د پيغمبر ﷺ دا قول دی: " من حلف فقال في حلفه: واللات، والعزى، فليقل: لا إله إلا الله" [متفق عليه].

ترجمه: څوك چې قسم وکړي او په خپل قسم کښې دا ووائي چې زما دی په لات او په عزی قسم وي، نو (لا إله إلا الله) دي ووائي.

❋❋❋

# د الله تعالی او د هغه د مخلوقاتو څخه د یو مخلوق تر منځ په حرف د (واو) سره اشتراك راوستل

❋ ددی څخه مراد: عطف «را یوځای والی» دي د الله تعالی او د هغه د مخلوقاتو څخه د یو مخلوق تر مینځ د «واو» په حرف سره، په هر هغه کار کښې چې د مخلوق لپاره ددغه کار په واقع کیدو کښې تدخل وي.

❋ ددی مثال لکه:

۱- ماشاءالله وشئت «هغه څه چې الله تعالی او ته یې وغواړې» ویل.

۲- زه د الله تعالی او ستا څخه امید لرم.

۳- زه په الله تعالی او په تاسره مدد غواړم.

۴- زما لپاره بل څوك نشته مګر الله تعالی او ته.

۵- که چیري الله تعالی اوفلاني نه وی نو زه به تباه شوي ووم.

او ددی پشان نور.

❋ ددی حکم په دوه قسمه دی:

أ- که چیري ددی ویونکي عقیده لري د یو شان والي (یعني د الله او د مخلوق تر منځ) نو دا لوي شرك دی، که حرف د (ثم) هم ورپکي راوړي.

ب- که چیري د الله تعالی او د مخلوق تر منځ د یو شان والي عقیده نه لري نو بیا وړوکي شرك دی.

❋ ددی الفاظو په استعمالولو کښې صحیح والي په دوه مرتبو دی:

أ- چې حرف د (ثم) راوړي او د یو شان والي عقیده ونلري، لکه داسي ووائي: "ما شاء الله ثم شئت" هغه څه چې الله تعالی یې وغواړي او بیا یې ته وغواړی.

یا "استعنت بالله ثم بك" زه مدد غواړم په الله تعالی سره بیا په تا سره.

ب- چې د ټولو کارونو الله تعالی ته نسبت وکړي، او داسي ووائي: "ما شاء الله وحده" هغه چې یواځي الله تعالی یې وغواړي، او داسي ووائي: "استعنت بالله وحده" امداد یواځي د الله تعالی څخه غواړم، یا ددی پشان نور، ا ودا بهتره او ښه کار دی.

❋ په دی الفاظو کښې د «واو» حرف او د «ثم» حرف تر منځ فرق.

عطف په «واو» باندي تقاضی «غواړي» کوي د یو شان والي، او یوځای والي، او عطف په «ثم» تقاضی کوي د ورپسي والي او وروسته والی.

❋❋❋

# د "لو" (كه چيري) كلمه

❋ د دی (لو) كلمي د استعمالولو لپاره دری حالتونه دي:

۱) جائز والي دی: كله چې (لو) د اخبار (خبر وركولو) په شكل استعمال كړي شي، لكه د مثال په شكل: (لو حضرت الدرس لاستفدت) كه چيري زه درس ته حاضر شوي وم نو ما به فائده حاصل كړی وی.

دليل پري د نبي ﷺ دا قول دی: "لو استقبلت من أمري ما استدبرت، ما سقت الهدي ولأحللت معكم" [متفق عليه].

ترجمه: كه چيري زه مخكي پوهه وي زما د كار څخه په هغه چې زه پري وروسته پوهه شوم؛ نو ما به قرباني (هدي) د ځان سره نه وی راوستلي، او ما به ستاسي سره ځان (د احرام څخه) حلال كړی وي.

۲) مستحب والی دی: كله چې د (لو) استعمال د خير د كار په ا رمان كولو كښې استعمال كړي شي، لكه د مثال په توګه: (لو كان عندي مال لتصدقت به) ارمان كه چيري زما سره مال وی نو ما به خيراتي وركړی وی.

دليل پری د نبي ﷺ هغه قول دی چې د څلوروكسانو په قيصه

کښې فرمايلي: کله چې يو کس ددوي څخه ووېل: "لو أن لي مالاً لعملت بعمل فلان" که زما لپاره مال وی نو ما به پکي د فلاني پشان کار کړی وی، يعني دخير تمنی (ارمان) يې وکړه؛نو پيغمبر ﷺ وفرمايل: "فهو بنيته فأجرهما سواء" [رواه أحمد والترمذي].

ترجمه: نو دا سړی په خپل نيت دی نو ددی دواړو ثواب يو شان دی.

۳) نهي (منعه والی) دی، او دا کله چې (لو) کلمه په دری صورتونو کښې استعمال کړی شي:

أ- په شريعت باندې د اعتراض کولو په صورت کښې، دليل پري د الله تعالی دا قول دی: ﴿لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا﴾ [آل عمران: ١٦٨].

ترجمه: که چيري يې زمونږ خبره منلي وی نو نه به وی وژل شوي.

ب- په تقدير باندې د اعتراض په شکل، دليل پري دا قول د الله تعالی دی: ﴿لَوْ كَانُوا عِندَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا﴾ [آل عمران: ١٥٦].

ترجمه: که چيري دوي زمونږ سره وی نو نه به وي مړه شوي، او نه به وژل شوي وی.

ج- د شر د ارمان کولو په شکل، دلیل پري د هغو څلورو کسانو حدیث دی چې کله ددوي څخه یو کس دا وویل: "لو أن لي مالاً لعملت بعمل فلان" (که زما سره مال وی نو ما به د فلاني پشان کار کړی وی) نو ده د شر ارمان وکړو، نو پیغمبر ﷺ وویل: "فهو بنیته فوزرهما سواء" (نو دا په خپل نیت باندي دی، نو ددی دواړو ګناه یو شان ده).

***

# سب الدهر (زماني ته کنځلي کول)

❁ مراد پدی سره (کنځلي او بدي ردي ويل دي زماني ته چې هغه وخت او زمان دی).

❁ زماني ته د کنځلو حکم په دری قسمه دی:

۱- چې صرف خبر ورکول يې مقصد وي، نه ملامتيا؛ نو دا جائز دی، مثال لکه: مونږ د نن ورځې د ګرمی څخه تنګ شو.

او لکه د لوط ﷺ دا قول: ﴿ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ﴾ [هود: ۷۷]. دا يوه سخته ورځ ده.

۲- چې زماني ته پدی وجه کنځلی او بد وائي چې دا زمانه (د هر څه) کونکي (فاعل) ده، لکه دا عقيده ولري چې دا زمانه د خير نه شر ته کارونه اړوي؛ نو دا لوي شرك دی.

۳- چې زماني ته کنځل کوي پدی وجه چې دا زما نه د هغه کار محل دی چې دا يې بد ګڼي، سره ددی عقيدي لرلو څخه چې يواځي الله تعالی يې کونکي دی، نو دا حرام کار دي، او ګناه کبيره ده.

❁ زماني ته کنځل او بد ويل الله تعالی ته ضرر ورکول دي:

نبي ﷺ فرمائي: "قال الله تعالى: يؤذيني ابن آدم يسب الدهر وأنا الدهر، أقلب الليل والنهار" [متفق عليه].

ترجمه: الله تعالى فرمائي: ضرر راكوي ماته بني آدم، چې كنځلي كوي زماني ته، او زه د زماني تدبير كونكي يم، شپه او ورځ زه اړوم را اړوم.

او د (أنا الدهر) معنى دا ده چې زه د زماني تدبير كونكي او اړونكي را اړونكي يم.

**خبرداری:** د الله تعالى د اسماء حسنى (خائسته نومونه) څخه دهر (زمانه) نوم ندى.

***

# په الفاظو کښي دوه فائدمندي قاعدي:

۱- د ناروا خبرو څخه د ژبي د ساتني لازموالی:

لکه د غیبت (پشي شا خبرو کولو) او چغلي او دروغو څخه، او د شرکي وینا لکه: په غیر الله باندي د قسم کولو څخه؛ ځکه انسان سره د هر هغه شي حساب کیږي چې دا یې د خولي څخه را اوباسي: ﴿ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ ﴾ [ق: ۱۸].

ترجمه: د خولي څخه دا انسان یوه خبره نه را اوباسي مګر دده سره دده لپاره څوکیدار تیار بیدار وي.

او کله إنسان دإسلام څخه د یوي کلمي په ویلو باندي اوځي، نو په الفاظو او په کلماتو (خبرو) کښې د اهتمام کولو خیال ساتل لازمي دي.

۲- هغه الفاظ او کلمات (خبری) چې د شرك احتمال ولري استعمالول جائز نه دی؛ ځکه ددی په استعمالولو کښې په شرك کښې د واقع کیدو ویره ده، او یا به دا د شرك لپاره د ورننوتلو دروازه وګرځي.

❋❋❋

# بدعت

❋ د بدعت تعریف: بدعت په لغت کښې هغه شی دی چې بغیر د مخکنې مثال څخه جوړ کړی شوي وي.

او په شریعت کښې: هغه شی دی چې په دین کښې بې دلیله راپیدا کړی شوي وي.

❋ د بدعت جوړولو قسمونه:

١- په عادتونو کښې بدعت کول، لکه: د موجوده زماني جوړ کړی شوي شیان او سامان آلات، نودا مباح دي؛ ځکه اصل په عاداتو کښې روا والی دی.

٢- په دین کښې بدعت کول، او دا حرام دی؛ ځکه اصل په دین کښې توقیف (په هغه دین عمل دی چې په قرآن او سنت کښې وي) دي.

❋ په دین کښې د بدعت جوړولو دری قسمونه دي:

١) عقیدوي بدعتونه، اودا عقیده لرل دي د هغه څه په خلاف چې الله او د هغه رسول ﷺ پري خبر ورکړی وي، مثال لکه: بدعت د تمثیل (مثال بیانولو) یا تعطیل (بیکاره ګرځولو) او د تقدیر د نفي کولو بدعت.

٢) عملي بدعت، او دا عبادت کول دي الله تعالی لره په هغې

طريقه چې الله تعالى نه وي مشروع (روا) كړي، او دا:

١- د هغه عبادت راپيدا كول چې رواء (جائز) نه وي.

٢- په جائز عبادت كښې زياتي يا كمي كول.

٣- يا د يو جائز عبادت كول په يوي نوي طريقي سره.

۴- يا د ځان نه د يو مشروع (جائز) عبادت لپاره وخت خاص كول چې په شريعت كښې ورلره هغه وخت نه وي خاص كړي شوي.

ددى مثال لكه: په قبرونو باندي ابادي جوړول، او د ځان ځخه نوي اختري او محفلونه جوړول.

٣) د پريښودلو بدعت، او دا پريښودل دي د مباح (روا) شي، او يا د هغه څه پريښودل د عبادت په طريقه چې د هغه كول مطلوب وي، مثال لكه: د غوښي خوراك پريښودل د عبادت په نيت، او د واده نه كول د عبادت په نيت.

❋ د بدعاتو قسمونه د حكم په اعتبار سره دوه قسمه دي:

١- كافر كونكى بدعت چې كونكي لره يې د إسلام ځخه اوباسي، مثال لكه: د رفض (شيعتوب) بدعت، او قرآن كريم ته مخلوق ويل.

٢- فاسق ګرځونکي بدعت، چې کونکي يې ګناهکاريږي، خو ليکن دإسلام څخه يې نه اوباسي، ددی مثال لکه: په اجتماعي شکل د ذکر کولو بدعت، او د شعبان پنځلسمه شپه عبادت لپاره خاص کولو بدعت.

❋ د بدعتونو څخه کرکه کول (ځان ساتنه) او د بدعتونو ردول:

پدی باره کښې يو آيت او دوه حديثونه پوره (کافي) دي:

١- د الله تعالى دا قول: ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾ [المائدة: ٣].

ترجمه: نن ورځ ما پوره کړو ستاسي لپاره ستاسي دين، او پوره مي کړو په تاسي باندي نعمت خپل، او خوښ کړی می دی ستاسي لپاره إسلام ددين په حيثيت.

٢- د نبي ﷺ دا قول: "من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد" [متفق عليه].

ترجمه: چا چې د ځان څخه نوی شی پيدا کړو زمونږ په دين کښې چې د دين څخه نه وي نو هغه مردود (نامنظور) دی.

او په يو روايت د مسلم شريف کښې داسي راغلي: "من عمل

عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد".

ترجمه: چا چې يو عمل وکړو چې په هغه باندي زمونږ حکم نه وي؛ نو هغه مردود (نا منظور) دی.

٣- د نبي ﷺ دا قول: "وشر الأمور محدثاتها، [وکل محدثة بدعة]، وکل بدعة ضلالة، [وکل ضلالة في النار]" [رواه مسلم].

-او د متوسطو قوسونو په منځ کښې عبارتونه د امام نسائي په کتاب کښې دي-.

ترجمه: او بد په کارونو کښې نوی جوړ کړی شوي کارونه دي، او هر نوی جوړ کړی شوی کار په دين کښې بدعت دی، او هر بدعت گمراهي ده، او هره گمراهي به په اور (جهنم) کښې وي.

❋ آيا په بدعتونو کښې "حسنه" (ښه) او "سيئه (بد) بدعت شته؟

چا چې د بدعت تقسيم:

١ - بدعت حسنة (ښه).

٢- بدعت سيئة (بد)

ته کړی نو هغه په غلطي او خطأ دي، او د نبي ﷺ ددی قول

مخالف دي "فإن كل بدعة ضلالة" بيشكه هر بدعت ګمراهي ده؛ ځكه رسول الله ﷺ په ټولو بدعتونو باندي دا حكم كړى چې دا ګمراهي ده، او دا كس وائي چې ټول بدعتونه ګمراهي نده بلكي ځني له بدعتونو ښه هم شته.

❋ ځني هغه اسباب (عوامل) چې د بدعتونو د راڅرګنديدو عامل شوي دي، ددغو عواملو د جملي څخه:

١- د دين په احكامو باندي ناپوهي.

٢- د خواهشاتو تابعداري كول.

٣- د رأي (اقوالو) او د خلكو لپاره تعصب (طرف داري) كول.

۴- كافرانو سره مشابهت كول.

۵- په هغو موضوعي (د ځان څخه جوړ كړى شوو) حديثونو باندي اعتماد كول چې د هغي كوم اصل نه وي.

٦- هغه عادتونه اودروغ خبرى چې په هغي باندي شريعت دلالت نكوي، او نه يې عقل مني.

❋ د بدعتونو د پيژندلو او رد كولو لپاره دوه مهمي قاعدې:

**اولنى قاعده:** اصل په عباداتو كښې منع والى او نشت والى دى، او چپ كيدل دي تر څو چې د هغي په مشروعيت (جائزوالي)

باندي دليل موجو شي.

**دوهمه قاعده:** هر هغه عبادت چې د هغه د کولو مقتضي (غوښتنه) او دغه عبادت ته بلونکي (سبب) د نبي ﷺ په زمانه کښې موجود ؤ، او سره له دی دغه عبادت هغه نه وي کړی، او نه د هغه صحابه کرامو کړی وي، نو دا په دی دلالت کوي چې دا عبادت مشروع (جائز) ندی.

**❋ دوه مهمي خبرداریاني:**

**اول:** إمام مالك رحمه الله فرمايلي: "چا چې په إسلام کښې د ځان نه نوي شی جوړ کړو او دغه شي ورته نيکي ښکاري؛ نو دی سړي دا ګمان وکړ چې بيشکه محمد ﷺ په پيغمبري کښې خيانت کړی؛ ځکه الله تعالی فرمائي: ﴿ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ ﴾ (نن ورځ ما ستاسي لپاره ستاسي دين پوره کړی) نو کوم شی چې په هغه ورځ (يعني د نبي ﷺ په زمانه کښې) د دين څخه نه ؤ نو نن هم د دين څخه نشي کيدلی".

**دوهم:** شيخ ألباني رحمه الله فرمائي: "دا ضروري ده چې مونږ په دين ځان پوهه کړو چې بشيکه وړوکی بدعت چې يو سړی هغه په دين کښې کوي نو هغه حرام دی، نو په بدعتونو کښې هغه بدعت نشته چې هغه صرف د مکروه په مرتبه کښې وي، لکه څرنګه چې

ځني خلك دا ګمان كوي.

*** ځني هغه بدعتونه چې په امت كښې خپاره شوي:**

۱- د نبي ﷺ د پيدائش په مناسبت يا د نورو د پيدائش په مناسبت محفلونه جوړول.

۲- د اسراء او معراج په شپه محفلونه جوړول.

۳- د شبعان د مياشتي په پنځلسمه شپه محفولنه جوړول.

۴- د ميلاد د اختر په مناسبت محفلونه جوړول.

۵- په ځايونو اوآثارو (باقي مانده شيانو) او ژوندو يا مړو باندي تبرك (بركت)حاصلول) طلب كول.

٦- په اجتماعي شكل ذكر كول.

۷- د مړو د ارواحو لپاره د سورة فاتحي لوستلو طلب كول، يا په نورو مناسبتونو كښې د سورة فاتحي لوستلو طلب كول.

۸- د رجب مياشت په عمري يا په نورو عبادتونو كولو خاص كول.

۹- د لمانځه نيت په زوره اوازل ويل.

۱۰-د خلكو په جاه (مرتبه) او حق باندي وسيله نيول.

* ځني هغه کتابونه چې د بدعت د پیژندلو لپاره فائده مند دي:

١- التحذير من البدع د شيخ عبد العزيز بن باز رحمه الله.

٢- السنن والمبتدعات، د شيخ محمد عبد السلام القشيري.

٣- البدع والمحدثات وما لا أصل له، جمع وإعداد: حمود المطر.

۴- الإبداع في مضار الابتداع، د شيخ علي محفوظ.

۵- البدع الحولية، د شيخ عبد الله التويجري.

**يوه فائده:** په يو عمل کښې متابعت (تابعداري) هله موجوديږي چې دغه عمل شريعت سره په شپږو شيانو کښې موافق وي:

| نمبر | د متابعت شرط | د مخالفت مثال |
|---|---|---|
| ١ | سبب | لکه يو څوك دوه رکعاته لمونځ د باران د وريدلو په سبب کوي. |
| ٢ | جنس | لکه څوك د وړوکي اختر سرسايه نقدي پيسي ورکړي. |
| ٣ | قدر (اندازه) | لکه يو څوك د ماښام لمونځ په قصد باندي |

| | | |
|---|---|---|
| | | څلور رکعاته وکړي. |
| ۴ | کيفيت (طريقه) | لکه يو څوك اودس کوي نو د دواړو خپو څخه يې شروع کړي او په مخ يې ختم کړي |
| ۵ | زمانه | لکه يو څوك (د غټ اختر) قرباني د روژې په مياشت کښې وکړي. |
| ۶ | مکان (ځای) | لکه يو څوك چې دشتو او صحراګانو کښې اعتکاف وکړي. |

***

# توحيد ته دعوت (بلنه)

الله طرف ته د دعوت (بلني) ورکولو ډير لوي شأن دی، او لوي فضيلت يې دی، او ودا د رسولانو او انبياؤ وظيفه ده، او د نيکانو او اولياؤ ميدان دی.

الله تعالی فرمائي دي: ﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ ﴾[النحل: ١٢٥].

ترجمه: بلنه ورکړه لاري د رب خپل ته په حکمت سره او په خائسته وعظونو، او بحث کوه دوي سره په هغی طريقه چې هغه ډيره خائسته وي.

او الله تعالی فرمائي: ﴿ قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ ﴾[يوسف: ١٠٨].

ترجمه: ووايه! دا زما لارده، زه بلل کوم الله تعالی ته په دليلونو، او هغه څوك چې زما تابعداري کوي.

او نبي ﷺ فرمائي: "فو الله لأن يهدي الله بك رجلاً واحداً خير لك من حمر النعم" [متفق عليه].

ترجمه: قسم په الله که چيري الله تعالی ستا په وجه يو سړي ته

هدايت وکړي نو داکار ستا لپاره د سرو اوښانو څخه غوره دی.

او دارنګه نبي ﷺ فرمايلي: "فمن دعا إلى هدى كان له من الأجر مثل أجور من تبعه، لا ينقص ذلك من أجورهم شيئاً" [رواه مسلم].

ترجمه: پس چا چې هدايت ته بلنه وکړه نو وي به دده لپاره د ثواب څخه پشان د ثوابونو د هغه چا چې ددی تابعداري وکړي، او دا به د هغوي د ثوابونو څخه هيڅ شي نه کموي.

**❋ توحيد اولني هغه شی دی چې هغه ته دعوت (بلنه) ورکيدای شي:**

اولني هغه شي چې زده کړی شي او ځان پري پوهه کړی شي، او تطبيق کړی شي، او هغه ته بلنه ورکړی شي هغه توحيد دی.

او دليل پری د نبي ﷺ دا قول دی کله چې معاذ ﷺ يې يمن ته ليږلو: "فليكن أول ما تدعوهم إليه شهادة أن لا إله إلا الله"، وفي رواية: "إلى أن يوحدوا الله" [متفق عليه].

ترجمه: نو اولني هغه شي چې ته ورته هغوي رابلي هغه ګواهي ددی ده چې د الله تعالى نه غير بل معبود برحق نشته، او بل روايت کښې دي چې: اولني دعوت چې ته هغوي ته ورکوي نو هغوي ته ددی دعوت ورکړه چې د الله توحيد ومني.

**﴾ توحيد ته د دعوت كولو د وسيلو د جملي څخه:**

دا هغه ځني وسيلي دي چې د ټولو سره مناسب دي، او ډير لوي تكليف پكي هم نشته:

۱- د هغه كتابونو او پوسټرو چاپول او تقسيمول چې توحيد ته پكي دعوت وي.

۲- تاجرانو ته د توحيد او عقيدي د كتابونو په چاپولو او نشرولو كښې د ونډې اخستلو دعوت وركول.

۳- د هغو كيسټو ټيپ كول اوتقسيمول چې دتوحيد وضاحت او بيان او توحيد طرف ته پكي دعوت وي.

۴- د تقريرونو او وعظونو او خطبو له لاري پخپله د توحيد بيانول كه څوك ددې طاقت لري، او يا د علماؤ او داعيانو سره ددې ترتيب جوړول.

۵- خپل بچو او د كور والو ته په كور كښې د توحيد د اصولو تعليم وركول، اود عقيدي دكتابونو درس وركول، او د هغوي لپاره د انعامونه او تيزي وركونكي شيان مقررول.

❋❋❋

## د توحيد او عقيدي مهم كتابونه

دا د توحيد او عقيدي د مهمو كتابونو ليست دی، چې ای مسلمان وروره تاته ددی كتابونو داختيارولو او لوستلو نصيحت كوم، ددی لپاره چې ته په خپل دين كښې پوهه زياته كړی، او د نجات لار وپيژنی، او دكاميابی هغه لار وپيژنی چې څوك په هغي روان شي؛ نوكامياب اوګټور دی، او څوك چې تري مخ وګرځوي؛ نو ناكام او تاواني دی.

او په دی ځان پوهه كړه ای عزتمنده وروره چې د توحيد لوستل او د عقيدي زده كول د دين د فقهي د لويو قسمونو څخه دي؛ ځكه ځينو علماؤ د فقه تقسيم كړی:

١ - فقه اكبر (لويه فقه) چې مقصود يې پدی سره د توحيد او عقيدي مسئلي دي.

٢ - او فقه اصغر (وړه فقه) چې مقصود يې پدی سره د احكامو فقه ده چې هغه عبادات او معاملات دي.

او د كتابونو نومونه تاته په لاندي ډول ذكر كوم:

١ - الأصول الثلاثة.

٢ - القواعد الأربعة.

٣- كشف الشبهات.

٤- كتاب التوحيد.

اودا ټول د مجدد شيخ محمدبن عبد الوهاب رحمه الله كتابونه دي.

٥- مجموعة التوحيد النجدية.

٦- فتح المجيد شرح كتاب التوحيد.

د شيخ عبد الرحمن بن حسن دي.

٧- تيسير العزيز الحميد شرح كتاب التوحيد.

دشيخ سليمان بن عبد الله دي.

٨- معارج القبول.

٩- أعلام السنة المنشورة.

اودا دواړه د شيخ حافظ حكمي دي.

١٠- القول المفيد على كتاب التوحيد.

دشيخ محمد بن صالح العثيمين دي.

١١- كتاب التوحيد.

١٢- الإرشاد إلى صحيح الاعتقاد.

ا ودا دواړه د شيخ صالح الفوزان دي.

١٣- العقيدة الواسطية، د شيخ الإسلام ابن تيمية ده.

١۴- شرح العقيدة الواسطية، دشيخ محمد العثيمين ده.

١۵- شرح العقيدة الواسطية، د شيخ صالح الفوزان ده.

١۶- القواعد المثلى في صفات الله وأسمائه الحسنى.
د شيخ محمد العثيمين دي.

١٧- العقيدة الطحاوية،اودهغي شرحه دابن أبي العزالحنفي.

❋ او ددی لویو علماؤ د کتابونو او فتواگانو په لوستلو حرص (کوشش) وکړه:

١- د شيخ الإسلام ابن تيمية كتابونه.

٢- د هغه د شاگرد امام ابن القيم كتابونه.

٣- د شيخ الإسلام محمد بن عبد الوهاب كتابونه، او د هغه د لمسو چې د دعوت د امامانو دجملي څخه دي .

۴- دشيخ عبد العزيز بن باز : كتابونه.

۵- د شيخ محمد بن صالح العثيمين كتابونه.

۶- د شيخ عبد الله الجبرين كتابونه.

٧- د شيخ صالح الفوزان كتابونه.

او دا رنګه د إسلام هغه عالمان چې په صحيح توحيد او صحيح عقيده باندي معروف او پيژندل شوي وي.

❋❋❋

# خاتمه

ددى كتاب په اخير كښې الله تعالى ته په ثناء او شكر متوجه كيږم، پدى وجه چې ماته يې توفيق ددى راكړو، اودا يې راته اسان كړو.

او دا اميد لرم چې دا رساله د توحيد په وضاحت كښې مدد وكړي، او داحكامو په نزدي كولو كښې يې اودمسئلو په اسانولو كښې يې برخه واخلي.

لكه څرنګه چې دالله تعالى څخه چې هغه اوچت او قدرت لرونكي ذات دى دعاء غواړم چې هغه چاته بهتره بدله وركړي چا چې ددى رسالي په نشر (خپرولو) او چاپولو كښې برخه اخستي، او هغوي ته لوي اجر او ثواب ورپه برخه كړي.

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

عبد الله بن أحمد الحويل.

***

# فهرست



| م | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | دشيخ عبدالله بن عبدالرحمن الجبرين وړانديز | ۲. |
| ۲ | د شيخ خالد المصلح وړانديز | ۳ |
| ۳ | سريزه | ۵ |
| ۴ | د توحيد تعريف | ۸ |
| ۵ | د توحيد قسمونه | ۹ |
| ۲ | د توحيد اهميت او فضيلت | ۱۳ |
| ۷ | لا إله إلا الله | ۱۹ |
| ۸ | د (لا إله إلا الله) شرطونه | ۲۳ |
| ۹ | د محمد ﷺ د پيغمبرى ګواهي ورکول | ۲۹ |
| ۱۰ | دشرك تعريف او قسمونه يې | ۳۲ |
| ۱۲ | د لوي شرك ډولونه (قسمونه) | ۳۴ |

| م | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۳ | د غټ او وړوکي شرك مثالونه | ۳۷ |
| ۱۴ | د شرك تاريخ | ۳۹ |
| ۱۵ | د شرك خطر او سزاګانې يې | ۴۱ |
| ۱۶ | إسلام ماتونكي شيان | ۴۴ |
| ۱۷ | په طاغوت كفر كول | ۴۹ |
| ۱۸ | درى اصول (بنيادونه): | ۵۱ |
| ۱۹ | كفر | ۵۴ |
| ۲۰ | النفاق (منافقت) | ۵۹ |
| ۲۱ | الولاء والبراء (محبت كول، اوتعلق كټ كول): | ۶۳ |
| ۲۲ | د خلكو قسمونه په هغه څه كښې چې د هغوي په هكله د ولاء او براء لازم والي دي | ۶۷ |
| ۲۳ | إسلام | ۶۸ |
| ۲۴ | د إسلام أركان | ۶۹ |

| م | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۲۵ | إيمان | ۷۱ |
| ۲۶ | د إيمان أركان | ۷۲ |
| ۲۷ | إحسان | ۷۷ |
| ۲۸ | د إسلام او إيمان او إحسان تر منځ علاقه (تعلق) | ۷۹ |
| ۲۹ | عبادت | ۸۰ |
| ۳۰ | د توحيد العبادت يومهمه قاعدة | ۸۳ |
| ۳۱ | د محبت قسمونه | ۸۵ |
| ۳۲ | الخوف (ويره) | ۸۸ |
| ۳۳ | رجاء (اميد لرل) | ۹۱ |
| ۳۴ | توكل (په الله تعالى ځان سپارل) | ۹۳ |
| ۳۵ | دعاء | ۹۵ |

| م | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ٣٦ | الرقى - دمونه - | ٩٧ |
| ٣٧ | التمائم (تعویذونه) | ٩٩ |
| ٣٨ | التبرك (برکت حاصلول) | ١٠١ |
| ٣٩ | د اسبابو په باب له مهمي قاعدي | ١٠٢ |
| ٤٠ | توسل (وسیله نیول) | ١٠٨ |
| ٤١ | د غیر الله لپاره ذبحه (حلالکه) کول | ١١٠ |
| ٤٢ | النذر لغیر الله (د الله تعالی څخه غیر د بل چا لپاره منخته کول) | ١١٣ |
| ٤٣ | الاستعانة (کومك غوښتل) الاستغاثة (پریاد رسي طلب کول) الاستعاذة (پناه غوښتل): | ١١٥ |
| ٤٤ | الشفاعة (سفارش) | ١١٧ |
| ٤٥ | د قبرونو زیارت کول | ١٢٠ |
| ٤٦ | سحر (جادو) | ١٢٢ |

| م | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۴۷ | کهانت او عرافة | ۱۲۲ |
| ۴۸ | الطيرة (بدپالي نيول) | ۱۲۹ |
| ۴۹ | تنجيم (د ستورو علم زده کول، او يا د ستورو د تأثير کولو عقيده لرل) | ۱۳۴ |
| ۵۰ | الاستسقاء بالأنواء (د باران نسبت ستورو ته کول) | ۱۳۷ |
| ۵۱ | رياء (ځان ښودنه) | ۱۴۰ |
| ۵۲ | کله چې يو عمل سره رياء کاري يو ځای شي | ۱۴۳ |
| ۵۳ | په عبادت کولو باندي د دنيا اراده کول | ۱۴۷ |
| ۵۴ | د الله تعالی څخه غير په بل چا باندي قسم کول | ۱۴۹ |
| ۵۵ | دالله تعالی او د هغه د مخلوقاتوڅخه د يو مخلوق تر منځ په حرف د (واو) سره اشتراك راوستل | ۱۵۲ |
| ۵۶ | د "لو" (که چيري) کلمه | ۱۵۵ |

| م | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ٥٧ | سب الدهر (زماني ته کنځلي کول) | ١٥٨ |
| ٥٨ | په الفاظو کښې دوه فائدمندي قاعدي: | ١٦٠ |
| ٥٩ | بدعت | ١٦١ |
| ٦٠ | توحيد ته دعوت (بلنه) | ١٧٠ |
| ٦١ | د توحيد او عقيدي مهم کتابونه | ١٧٣ |
| ٦٢ | خاتمه | ١٧٧ |
| ٦٣ | فهرس الموضوعات | ١٧٨ |


***